# د پاچاهانو دويم کتاب

## ايليا او اخزيا پاچا

١ (١) د اخاب له مړينې څخه وروسته موآبيان د اسراييليانو په
وړاندې ياغي شول.

(٢) يوه ورځ اخزيا پاچا په سامره کې د خپلې ماڼۍ د دوېم پوړ د
خونې د کړکۍ د جالۍ څخه راولوېد او سخت ټپي شو. نو د عقرون
ښار ته يې استازي ولېږل چې د هغو د خدای يعنې بعل زبوب څخه
پوښتنه وکړي چې هغه به روغ شي او که نه.

(٣) په همدې وخت کې د ښښتن فرښتې، ايليا نبي چې د تشبي
څخه ؤ د پاچا استازو ته ولېږه چې د هغوی سره وګوري او داسې
ووايي: <تاسو ولې د عقرون د خدای بعل زبوب سره سلا کوئ؟ آيا
په اسراييلو کې خدای نشته؟ (۴) اخزيا ته داسې ووايئ: په دې
خاطر چې داسې کار دې کړی دی نو ته به د ناروغۍ د بستري جګ
نه شې او هرومرو به مړ شې!> څنګه چې ايليا ته ويل شوي وو
هماغسې يې وکړل.

(۵) کله چې استازي بېرته پاچا ته راستانه شول هغه ورڅخه
پوښتنه وکړه: <ولې دومره ژر بېرته راغلئ؟>

(۶) هغوی ځواب ورکړ: <په لاره کې يو سړی زمونږ سره مخامخ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شو او هغه مونږ ته وویل: راستانه شئ او خپل پاچا ته چې تاسو یې رالیږلي یئ ووایئ چې څښتن داسې وايي: آیا په اسراییلو کې خدای نشته چې ته د عقرون د خدای بعل زبوب څخه مشوره غواړې؟ نو ځکه ته به د ناروغی د بسترې جګ نه شې او هرومرو به مړ شې.>

٧ اخزیا پوښتنه وکړه: <هغه سړی څنګه ښکاریده؟>

٨ هغوی ځواب ورکړ: <هغه ببر ویښتان درلودل او د څرمنې کمربند یې په ملا پورې تړلی ؤ.>

اخزیا په ځواب کې وویل: <هغه ایلیا چې د تشبي څخه دی.>

٩ نو هغه یو عسکري منصبدار د پنځوسو عسکرو سره ولیږه چې ایلیا راولي. په دې وخت کې ایلیا د غونډۍ دپاسه ناست ؤ. عسکري منصبدار هغه ته ورغی او ورته ویې ویل: <ای د خدای نبي، پاچا امر کړی دی چې راښکته شه.>

١٠ ایلیا ځواب ورکړ: <که چیرې زه د خدای نبي یم نو خدای دې په تا او ستا په پنځوسو عسکرو باندې اور رانازل کړي.> ناڅاپه د اسمان څخه اور نازل شو او هغه عسکري منصبدار او د هغه نفر یې وسوځول.

١١ اخزیا یو بل منصبدار او نور پنځوس عسکر ایلیا ته ورولیږل. هغه منصبدار وویل: <ای د خدای نبي، پاچا امر کړی دی چې ژر راښکته شه.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ ایلیا ځواب ورکړ: <که چېرې زه د خدای نبي یم، نو خدای
دې په تا او ستا په پنځوسو عسکرو باندې اور رانازل کړي.> او
خدای له اسمان څخه په هغه او د هغه په نفرو باندې اور نازل کړ.

۱۳ اخزیا د درېم ځل دپاره یو عسکري منصبدار د نورو پنځوسو
عسکرو سره ولېږه. هغه منصبدار غونډۍ ته وروخوت، ایلیا ته په
ګونډو شو او زارۍ یې ورته وکړې: <ای د خدای نبي، په ما او په
خپلو پنځوسو خدمتګارانو باندې رحم وکړئ او مونږ ژوندي
پرېږدئ! ۱۴ هغه دوه نور منصبداران او د هغوی عسکر چې مخکې
ستاسو حضور ته راغلي وو هغه اور چې د اسمان څخه رانازل شوی
ؤ هغوی یې له منځه یوړل، مګر په ما باندې رحم وکړئ!>

۱۵ د څښتن فرښتې ایلیا ته وویل: <مه وېرېږه، د هغه سره لاړ
شه.> نو ایلیا پاڅېد او د هغه منصبدار سره پاچا ته روان شو.

۱۶ کله چې ایلیا وروړسېده، اخزیا ته یې وویل: <څښتن داسې
فرمايي چې تا ولې د عقرون د خدای بعل زبوب څخه د پوښتنې
دپاره استازي لېږلي وو؟ آیا په اسراییلو کې خدای نشته؟ نو ځکه ته
به د ناروغۍ د بسترې جګ نه شې او هرومرو به مړ شې.>

۱۷ لکه څنګه چې څښتن د ایلیا په وسیله فرمایلي وو، اخزیا مړ
شو. مګر په دې خاطر چې اخزیا زوی نه درلود، نو د هغه ورور
یورام د هغه په ځای پاچا شو. دا پېښه د یهودا د پاچا یهوشافاط د
زوی یهورام د پاچاهۍ په دویم کال کې وشوه. ۱۸ د اخزیا د
پاچاهۍ نورې پېښې او دا چې هغه څه کړي دي، د اسراییلو د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاچاهانو د تاریخ په کتاب کې لیکل شوي دي.

## ایلیا اسمان ته خېژول کیږي

۲ ۱ هغه وخت راورسېده چې څښتن ایلیا په یوې زوروره
سیلۍ کې اسمان ته پورته کړي. کله چې ایلیا او الیشع د جلجال
څخه وتل ۲ ایلیا الیشع ته وویل: <څښتن غواړي چې زه
بیت ییل ته لاړ شم، مګر ته باید همدلته پاتې شې.>

الیشع ځواب ورکړ: <زه د ژوندي څښتن او ستاسو په ژوند باندې
قسم خورم هرڅه چې کیږي زه به تاسو یواځې پرېنږدم!> او هغه د
ایلیا سره بیت ییل ته لاړ.

۳ د نبیانو یوه ډله چې هلته اوسېدله الیشع ته ورغله او د هغه
څخه یې پوښتنه وکړه: <آیا ته پوهېږې چې څښتن ستا بادار نن ستا
څخه اخلي؟>

الیشع ځواب ورکړ: <هو، زه پوهېږم، مګر په دې هکله څه مه
وایئ.>

۴ بیا ایلیا وویل: <ای الیشع، اوس څښتن غواړي چې زه اریحا
ته لاړ شم، مګر ته باید دلته پاتې شې.>

الیشع ځواب ورکړ: <زه د ژوندي څښتن او ستاسو په ژوند باندې
قسم خورم، چې هرڅه چې کیږي زه به تاسو یواځې پرېنږدم!> او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه د ایلیا سره اریحا ته لاړ.

۵ د نبیانو یوه ډله چې هلته اوسېدله الیشع ته ورغله او د هغه
څخه یې پوښتنه وکړه: <آیا ته پوهېږې چې څښتن ستا بادار نن ستا
څخه اخلي؟>

الیشع ځواب ورکړ: <هو، زه پوهېږم، مګر په دې هکله څه مه
وایئ.>

۶ بیا ایلیا الیشع ته وویل: <اوس څښتن غواړي چې زه د اردن
سیند ته لاړ شم، مګر ته باید دلته پاتې شې.>

الیشع ځواب ورکړ: <زه د ژوندي څښتن او ستاسو په ژوند باندې
قسم خورم چې تاسو به یواځې پرېنږدم!> نو دواړه یوځای سره
روان شول.

۷ د نبیانو یوه پنځوس کسیزه ډله د اریحا څخه د هغوی پسې
روانه شوله. ایلیا او الیشع د سیند په غاړه ودرېدل او هغه ډله لږ لیرې
هغوی ته مخامخ ودرېدله. ۸ ایلیا خپله چپنه وویستله، بیا یې هغه
راتاوه کړه او اوبه یې ووهلې. په سیند کې لاره خلاصه شوه او دواړه
په وچې پورې وتل.

۹ وروسته له دې چې هغوی د سیند بلې خواته تېر شول، ایلیا
وویل: <ای الیشع، مخکې له دې چې زه ستا څخه لیرې یوړل شم،
ووایه چې ستا دپاره څه وکړم؟>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اليشع ځواب ورکړ: <د خپل روح د قدرت څخه دې ماته داسې
برخه راکړه چې ستا ځای ونیسم.>

١٠ ایلیا ځواب ورکړ: <دا اسانه هیله نه ده. دا به یواځې هغه
وخت لاس ته راوړې چې ته ما په خپلو سترګو ووینې چې زه ستا
څخه لیرې یوړل کېږم. که ومې نه وینې نو خپله هیله به لاس ته رانه
وړې.>

١١ ایلیا او الیشع له یو بل سره خبرې کولې او روان وو، چې
یوناڅاپه د هغوی په منځ کې لمبه لرونکې جنګي ګاډۍ د اور لرونکو
آسونو سره راښکاره شوه. سمدستي یوې سیلۍ ایلیا اسمان ته پورته
کړ. ١٢ الیشع دغه صحنه ولیدله او په چیغو یې ایلیا ته وویل:
<پلاره! د اسراییلو جنګي ګاډۍ او سپاره عسکر به ستا څخه پرته
څه وکړي؟> هغه یې نور ونه لید، بیا نو الیشع له غمه خپل کالي
وشلول.

١٣ بیا هغه د ایلیا چپنه چې ورڅخه لوېدلې وه راپورته کړه، بېرته
لاړ او د اردن د سیند په غاړه ودرېد. ١٤ هغه اوبه په چپنې باندې
ووهلې او ویې ویل: <څښتن د ایلیا خدای چېرې دی؟> کله چې
الیشع دا کار وکړ په اوبو کې یوه وچه لاره خلاصه شوه او هغه پکې
تېر شو.

١٥ کله چې د اریحا نبیانو دا پېښه ولیدله، هغوی یو بل ته وویل:
<د ایلیا روح په الیشع باندې نازل شو!> هغوی الیشع ته ورغلل او
د درناوي په خاطر ورته ټیټ شول ١٦ او ویې ویل: <مونږ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پنځوس قوي نفر يو او ستاسو په خدمت کې حاضر يو. اجازه راکړئ
چې ستاسو بادار ولټوو. کېداى شي چې د څښتن روح هغه کوم غره
يا کومې درې ته وړى وي.>

اليشع ځواب ورکړ: <نه، مه يې لټوئ.>

١٧ هغوى دومره زارى وکړې ترڅو چې اليشع مجبور شو چې
هغوى ته اجازه ورکړي چې هغه ولټوي. هغوى درې ورځې ايليا
ولټاوه مګر هغه يې پيدا نه کړ. ١٨ هغوى بېرته اريحا ته راستانه
شول او اليشع ورته وويل: <ما تاسو ته نه وو ويلي چې هغه مه
لټوئ؟>

## د اليشع معجزه

١٩ يوه ورځ د اريحا خلکو وويل: <اى اليشع، تاسو وينئ چې
زمونږ ښار په ډېر ښه ځاى کې دى. مګر زمونږ اوبه دومره خرابې
دي چې ځمکه يې شاړه کړې ده.>

٢٠ هغه ځواب ورکړ: <په يوې نوې کاسې کې لږه مالګه واچوئ
او ماته يې راوړئ.>

هغوى اليشع ته کاسه د مالګې سره راوړله ٢١ او هغه د ښار چينې
ته لاړ، مالګه يې په اوبو کې واچوله او ويې ويل: <څښتن داسې
فرمايي: زه به دا اوبه پاکې کړم. له دې نه وروسته به اوبه ستاسو د
مرګ سبب ونه ګرځي او هېڅکله به ځمکه شاړه پاتې نه شي.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۲ لکه څنګه چې الیشع ویلي وو تر نن ورځې پورې اوبه پاکې
دي.

## په الیشع باندې د هلکانو ملنډې

۲۳ الیشع د اریحا څخه بیت ییل ته روان شو. په لاره کې څو
هلکانو په هغه باندې ملنډې وهل پیل کړل او چیغې یې وهلې: <ای
ګنجیه، لاړ شه! ای ګنجیه، لاړ شه!> ۲۴ الیشع مخ راواړاوه او
هلکانو ته یې په ځیر سره وکتل. بیا یې په هغوی باندې د څښتن په
نامه لعنتووایه. نو د ځنګل څخه دوه ایږې راووتلې او د هلکانو
څخه یې دوه څلوېښت تنه ټوټې ټوټې کړل.

۲۵ الیشع د کرمل غره ته لاړ او وروسته بیا سامرې ته ستون شو.

## د اسراییلو او موآب ترمنځ جګړه

۳ ۱ د یهودا د پاچا یهوشافاط د پاچاهۍ په اتلسم کال، یورام د
اخاب زوی د اسراییلو پاچا شو. یورام په سامره کې دولس کاله
پاچاهي وکړه. ۲ هغه د څښتن په وړاندې ګناه وکړه، مګر د خپل
مور او پلار په شان ګناهکار نه ؤ. یورام هغه بت راوغورځاوه، چې د
هغه پلار د بعل د عبادت دپاره جوړ کړی ؤ. ۳ مګر هغه داسې د
ګناه څخه ډک کارونه کول چې د نباط زوی یروبعام په اسراییلو
باندې کړي وو. یورام دا بد کارونه پرېنښودل.

۴ د موآب پاچا میشع پسونه ساتل، نو هغه به هر کال د باج په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

توګه د اسراییلو پاچا ته سل زره وري او د سلو زرو پسونو وړی
ورکولې. ۵ مګر کله چې اخاب مړ شو، میشع د اسراییلو په مقابل
کې یاغي شو.

۶ په دې خاطر یورام د سامرې څخه روان شو او د اسراییلو ټول
لښکر يې سره راغونډ کړ. ۷ هغه د یهودا پاچا یهوشافاط ته دا
پیغام ورولېږه: <د موآب پاچا زما په ضد یاغي شوی دی. آیا زما
سره به لاړ شې چې د هغه سره وجنګېږو؟>

یهوشافاط په ځواب کې وویل: <هو، زه به درسره لاړ شم. زه ستا
پلوي کوم او زما عسکر او آسونه ستا په خدمت کې دي. ۸ مګر
په کومه لاره به لاړ شو؟>

یورام ځواب ورکړ: <د ادوم د دښتې په لار به لاړ شو.>

۹ نو د اسراییلو، یهودا او ادوم پاچاهان د خپلو لښکرو سره روان
شول. مګر وروسته له اوو ورځو د غیر مستقیمې لارې څخه د هغوی
او د هغو د څارویو دپاره د څښلو اوبه پاتې نه شوې. ۱۰ یورام
پاچا پوښتنه وکړه: <اوس څه وکړو؟ څښتن مونږ درې پاچاهان د
دې دپاره دلته راوستو چې د موآب لښکرو ته مو په لاس ورکړي.>

۱۱ یهوشافاط پوښتنه وکړه: <آیا د څښتن کوم نبي دلته شته چې
مونږ د هغه په وسیله د څښتن څخه مشوره وغواړو؟>

د یورام د منصبدارانو څخه یو تن ځواب ورکړ: <د شافاط زوی
الیشع دلته دی. هغه د ایلیا مرستیال ؤ.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ یهوشافاط ځواب ورکړ: <هغه د څښتن رښتینی نبي دی.>

درې واړه پاچاهان الیشع ته ورغلل. ۱۳ الیشع د اسراییلو له پاچا
یورام څخه پوښتنه وکړه: <ماته ولې راغلې؟ ورشه او د خپل پلار او
مور د نبیانو سره مشوره وکړه.>

یورام ځواب ورکړ: <نه، دا څښتن ؤ چې مونږ درې پاچاهان یې دلته
راوستلو چې د موآب لښکرو ته مو په لاس ورکړي.>

۱۴ الیشع هغه ته وویل: <زه د هغه ژوندي څښتن په نوم چې زه
یې خدمت کوم قسم خورم که یهوشافاط پاچا، چې زه د هغه درناوی
کوم، درسره نه وای نو تاته به مې کتلې هم نه وای.> ۱۵ بیا الیشع
وویل: <داسې یو څوک راوغواړه چې رباب غږولی شي.>

رباب غږوونکي په رباب غږولو باندې پیل وکړ. د څښتن قدرت په
الیشع باندې نازل شو ۱۶ او هغه وویل: <څښتن فرمایي چې د
دې وچ خوړ په هرځای کې لښتې وباسئ. ۱۷ که څه هم تاسو به
نه باد وویني او نه باران، مګر دا وچ خوړ به د اوبو څخه ډک شي او
ستاسو او ستاسو د څارویو دپاره به دلته اوبه پریمانه وي. ۱۸ د
څښتن دپاره دا یو ساده کار دی، هغه به ستاسو سره دا مرسته هم
وکړي چې د موآب لښکرو ته ماتې ورکړئ. ۱۹ تاسو به د هغوی
دېوال لرونکي ښارونه او مهم ښارګوتي ونیسئ. تاسو به د هغوی ښې
ونې ووهئ او د اوبو ټولې چینې به یې بندې کړئ، د هغوی
حاصلخیزې ځمکې به له تیږو څخه ډکې کړئ او هغه به له حاصله
وغورځوئ.> ۲۰ په بله ورځ د سهارنۍ قربانۍ د وړاندې کولو په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وخت کې، يوناخاپه د ادوم له خوا څخه اوبه راوبهيدلې او ځمکه د
اوبو څخه ډکه شوه.

۲۱ د موآب خلکو واورېدل چې درې پاچاهان د هغوی خواته
راروان دي چې په دوی باندې برید وکړي. نو هغوی خپل ټول هغه
کسان چې جګړه کولای شي د ځوانه څخه نیولې تر زاړه پورې سره
راغونډ کړل او د هغوی لښکرې د هېواد په پوله کې د جګړې دپاره
تیارې شوې. ۲۲ کله چې موآبیان سهار راپاڅېدل په اوبو باندې
لمر لګېده او اوبه ورته لکه د وینو په شان سرې ښکاره کېدلې. ۲۳
هغوی وویل: <هغو وینو ته وګورئ! د هغو درې پاچاهانو لښکرې
په خپل منځ کې سره جنګېدلې دي او یو او بل یې سره وژلي دي.
راځئ چې ورشو او د هغوی کمپ لوټ کړو.>

۲۴ مګر کله چې هغوی د اسراییلو کمپ ته ورسېدل، اسراییلي
عسکر راووتل او په هغوی باندې یې تر هغه وخته پورې برید وکړ
ترڅو چې هغوی په شا شول او وتښتېدل. د اسراییلو لښکرو هغوی
بېرته تر موآبه پورې تعقیب کړل او په ټللو ټللو کې یې له منځه
یوړل. ۲۵ اسراییلیانو د موآبیانو ښارونه وران کړل. کله چې هر
اسراییلی د حاصلخېزه پټي څخه تېرېده په هغه باندې به یې تېږه
غورځوله ترڅو ټول پټي په تېږو باندې پټ شول. همدارنګه یې ښې
وني ووهلې او د اوبو چینې یې بندې کړې.

په پای کې یواځې د هغوی پایتخت د قیر حارست ښار جوړ پاتې
شو، مګر هغو عسکرو چې مچنوغزې ورسره وې نوموړی ښار کلابند
کړ او برید یې ورباندې وکړ. ۲۶ کله چې د موآب پاچا میشع

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ولیدل چې ماتې خوري، نو اووه سوه عسکر يې چې توري ورسره
وې د ځانه سره یوړل او هڅه يې وکړه چې د جګړې هغه کرښه ماته
کړي چې ادومي لښکرې پکې ځای په ځای شوې وې، مګر هغه
ناکام شو. ۲۷ نو هغه خپل مشر زوی چې د هغه څخه وروسته باید
پاچا شوی وای ونیوه او هغه يې د ښار په دېوال باندې د نذرانې په
توګه قرباني کړ. د اسراییلي لښکرو زړونه د دې کار په لیدلو سره
دومره د نفرت څخه ډک شول چې ښار يې پرېښود او بېرته خپل
هېواد ته ستانه شول.

## د الیشع مرسته د یوې غریبې کونډې سره

۴ ۱ یوه ورځ د نبیانو د ډلې څخه د یو نبي کونډه الیشع ته
راغله او ویې ویل: <ښاغلیه! زما مېړه مړ شوی دی. لکه څنګه چې
تاسو پوهېږئ هغه یو ښښتن پرست سړی ؤ. مګر اوس یو سړی
راغلی دی چې زما مېړه د هغه څخه یو څو روپۍ په پور اخیستې
وې او هغه غواړي چې د دې پور په بدل کې زما دوه زامن خپل
غلامان کړي.>

۲ الیشع وویل: <زه ستا دپاره څه وکړم؟ ووایه چې په کور کې
څه شی لرې؟>

ښځې ځواب ورکړ: <ښاغلیه، د زیتونو د تېلو د یو کوچني بوتل
څخه پرته بل هېڅ څه نه لرم.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣ الیشع هغې ته وویل: <خپلو ګاونډیانو ته ورشه او څومره چې
کولی شې د هغوی څخه ډېر خالي لوښي وغواړه. ٤ خپل کور ته
لاړه شه او د خپل ځان او خپلو زامنو پسې دې دروازه بنده کړه. بیا
لوښي د تېلو څخه ډک کړه او هر یو چې ډکېده هغه یوې خواته
ږده.> ٥ هغه ښځه لاړه. وروسته کله چې هغه د خپلو زامنو سره
خپل کور ته ننوتله او دروازه یې بنده کړه، زامنو ورته لوښي راوړل او
هغې ډکول.

٦ کله چې ټول لوښي ډک شول، هغې خپل یو زوی ته وویل:
<یو بل لوښی راوړه.>

هغه ځواب ورکړ: <مونږ سره نور لوښي نشته.> په دې وخت کې د
هغه کوچني بوتل څخه نور تېل توی نه شول.

٧ وروسته له دې چې هغې الیشع د خدای نبي ته د دې پېښې په
اړه خبر ورکړ، الیشع وویل: <تېل خرڅ کړه او د هغو د پیسو په یوې
برخې خپل پور ادا کړه. په پاتې پیسو باندې کولی شې چې د خپلو
زامنو سره خپل ژوند وکړې.>

## الیشع او د شونیم شتمنه ښځه

٨ یوه ورځ الیشع د شونیم ښارګوټي ته لاړ، هلته یوه شتمنه ښځه
اوسېدله. هغې الیشع خپل کور ته د ډوډۍ دپاره راوباله. له هغې
وروسته، کله چې الیشع به په شونیم کې ؤ نو د هغې ښځې او د هغې
د مېړه سره به یې د هغې په کور کې ډوډۍ خوړله.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩ هغې ښځې خپل مېړه ته ووېل: <زه یقین لرم چې هغه سړی
چې دلته زیات راځي د خدای یو سپېڅلی سړی دی. ١٠ راځئ
چې د هغه دپاره د خپل کور په بام باندې یوه کوچنۍ کوټه جوړه
کړو. په هغې کې به یو کټ، مېز، چوکۍ او د تېلو څراغ کېږدو. نو کله
چې هغه زمونږ کور ته راځي، د دې کوټې او شیانو څخه به استفاده
کوي.>

١١ یوه ورځ الیشع په شونیم کې د هغوی کور ته راغی او خپلې
کوټې ته وخوت چې هلته آرام وکړي. ١٢ هغه خپل خدمتګار
جیحزي ته ووېل: <هغه شونیمي ښځه دلته راوبله.> نو هغه راغله او
د الیشع په مخکې ودرېدله. ١٣ الیشع جیحزي ته ووېل: <هغې ته
ووایه: تا زمونږ دپاره ډېر تکلیف وګاله، اوس ستا دپاره څه وکړم؟ آیا
ستا سپارښتنه د پاچا یا د لښکرو د قوماندان څخه وکړم؟>

هغې ښځې ځواب ورکړ: <زه د خپل قوم په منځ کې اوسېږم او هر
شي ته چې اړتیا لرم هغه راسره شته.>

١٤ الیشع د جیحزي څخه پوښتنه وکړه: <نو بیا د هغې دپاره څه
وکړم؟>

جیحزي په ځواب کې ووېل: <زه پوهېږم چې د هغې مېړه زوړ دی
او هغه زوی نه لري.>

١٥ الیشع خپل خدمتګار ته ووېل: <هغه راوبله چې دلته راشي.>
هغه راغله او د الیشع د کوټې په دروازه کې ودرېدله. ١٦ الیشع

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغې ته وويل: <په راتلونکي کال کې په همدې وخت به تا خپل
زوی په غېږ کې نيولی وي.>

ښځې ځواب ورکړ: <باداره! تاسو د خدای نبي ياست، ما مه
غولوئ.>

١٧ مګر لکه څنګه چې اليشع ويلي وو په راتلونکي کال په همدې
وخت يې زوی پيدا شو.

١٨ کله چې هغه هلک لوی شو، يوه ورځ د خپل پلار د ليدلو
دپاره پټي ته لاړ چېرته چې لوګرو فصلونه رېبل. ١٩ هغه خپل
پلار ته شکايت وکړ: <زما سر خوږېږي، هغه ډېر خوږېږي!>

د هغه پلار خپل نوکر ته وويل: <هغه بېرته خپلې مور ته بوځه.>
٢٠ نوکر هغه هلک راپورته کړ او خپلې مور ته يې راوړ. هلک تر
غرمې پورې د مور په زنګنونو باندې ناست ؤ او د غرمې په وخت
کې مړ شو. ٢١ هغې هلک د اليشع کوټې ته وخېژاوه او د هغه په
کټ کې يې واچاوه. بيا هغې دروازه بنده کړه او لاړه.

٢٢ هغې خپل مېړه راوغوښت او ورته ويې ويل: <يو نوکر د خره
سره دلته راولېږه. زه غواړم چې د خدای نبي اليشع ژر ووينم او بېرته
به راستنه شم.>

٢٣ د هغې مېړه پوښتنه وکړه: <ولې غواړې چې نن هغه ته
ورشې؟ نن خو نه د سبت ورځ ده او نه د نوې مياشتې اختر دی!>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغې ځواب ورکړ: <خير و خيريت دی.> ۲۴ هغې په خره باندې
کته واچوله او خپل نوکر ته يې وويل: <خر ژر بوځه، ترڅو چې
ما درته ويلي نه وي مه درېږه.> ۲۵ بيا هغه روانه شوه او د کرمل
غره ته لاړه چېرته چې اليشع موجود ؤ.

کله چې هغه يې وليدله، خپل خدمتګار جيحزي ته يې وويل: <هغه
شونيمي ښځه ده چې راروانه ده. ۲۶ منډه کړه، د هغې مخې ته
ورشه او پوښتنه وکړه چې هغه او د هغې مېړه او زوی ښه دي او که
نه.>

هغې جيحزي ته ځواب ورکړ: <هو، خير و خيريت دی.> ۲۷
مګر څنګه چې هغه غره ته ورسېدله، اليشع ته ورغله او د هغه پښې
يې ونيولې. جيحزي د هغې خواته ورروان شو چې هغه ليرې ټېل
وهي، مګر اليشع وويل: <هغه پرېږده! آيا ته نه وينې چې هغه څومره
خفه ده؟ مګر څښتن ماته په دې هکله څه نه دي ويلي.>

۲۸ هغې ښځې وويل: <ښاغليه، آيا ما ستاسو څخه د زوی
غوښتنه کړې وه؟ آيا تاسو ته مې ويلي نه وو چې ما مه غولوئ؟>

۲۹ اليشع وويل: <ای جيحزي، ځان تيار کړه، زما امسا درسره
واخله او د هغې کور ته لاړ شه. په لاره کې به چاته سلام نه اچوې
او نه به د چا سلام ځوابوې. کله چې هلته ورسېدلې، امسا د هلک په
مخ باندې کېږده.>

۳۰ مګر د هلک مور اليشع ته وويل: <زه د ژوندي څښتن او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستاسو په ژوند باندې قسم خورم چې زه به بې له تا لاړه نه شم.>
نو الیشع راپاڅېده او د هغې سره لاړ.

۳۱ جیحزي د هغوی څخه مخکې لاړ او د هلک په مخ باندې یې
امسا کېښوده، مګر هلک ونه خوځېده او هېڅ غږ یې ونه کړ. جیحزي
بېرته الیشع ته ورغی او هغه ته یې وویل: <هلک راویښ نه شو.>

۳۲ الیشع د هغې ښځې کور ته ورسېده، خپلې کوټې ته ورغی او
ویې لیدل چې د هلک مړی د هغه په کټ کې پروت دی. ۳۳ هغه
کوټې ته ورننوت، دروازه یې بنده کړه او څښتن ته یې دعا وکړه.
۳۴ بیا هغه کټ ته ورغی او په مړي باندې پرېوت. خپله خوله یې
د هلک په خوله کېښوده، سترګې یې د هلک په سترګو او خپل
لاسونه یې د هغه په لاسونو باندې کېښودل. څنګه چې هغه په هلک
باندې خپل ځان وغزاوه د هلک وجود تود شو. ۳۵ الیشع راپاڅېده
او په کوټه کې یوه خوا او بله خوا ګرځېده، بیا هغه بېرته لاړ او د
هلک په مړي باندې یې خپل ځان وغزاوه. په دې وخت هلک اووه
ځلې وپرنجېده او خپلې سترګې یې وغړولې.

۳۶ الیشع جیحزي ته غږ وکړ او ورته ویې ویل: <د هلک مور ته
ووایه چې دلته راشي.> جیحزي هماغسې وکړل او کله چې هغه
راغله الیشع ورته وویل: <خپل زوی دې واخله.> ۳۷ هغه الیشع
ته ټیټه شوه او پښو ته یې پرېوته، بیا یې خپل زوی واخیست او
ووته.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د الیشع دوه نوري معجزې

۳۸ کوم وخت چې الیشع جلجال ته راستون شو، په هغه ځای کې
قحطي وه.

کله چې د نبیانو یوه ډله د هغه په وړاندې ناسته وه، الیشع خپل
خدمتګار ته وویل: <یو غټ لوښی په اور باندې کېږده او دغو نبیانو
ته قورمه پخه کړه.>

۳۹ د هغو څخه یو تن ځنګل ته لاړ چې یو څه بوټي راټول کړي.
هغه یو د کدو ځنګلي بوټی پیدا کړ او دومره کدوان یې ورڅخه
راوشکول چې هغه وړلی شول. مګر هغه نه پوهېده چې دا څه شی
دی. کله چې هغه بېرته راستون شو، نو هغه کدوان یې ټوټې ټوټې
کړل او په قورمه کې یې واچول. ۴۰ کله یې چې قورمه نبیانو ته
واچوله چې ویې خوري او هغوی په خوړلو پیل وکړ، ناڅاپه هغو
چیغې کړې او ویې ویل: <ای د خدای نبي، په دې کې زهر دي!>
نو هغوی دا قورمه ونه شوه خوړلی.

۴۱ الیشع وویل: <لږ اوړه راته راوړئ.> الیشع هغه اوړه په قورمه
کې واچول او ویې ویل: <اوس یې هغوی ته ورکړه چې ویې
خوري.> نو په خوړو کې زهر نه وو.

۴۲ یو سړی د بعل شلیشه څخه راغی او الیشع ته یې یو څه تازه
غلې دانې او د اولنیو رېبل شویو اوربشو شل ډوډۍ راوړې. الیشع
وویل: <دا خلکو ته ورکړه چې ویې خوري.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۳ د هغه خدمتګار وویل: <آیا دا د سلو سړیو دپاره بس دي؟>

الیشع ځواب ورکړ: <هغوی ته يې ورکړه چې ويې خوري. ځکه چې
څښتن فرمايي: هغوی به ماړه شي او يو څه به ورڅخه پاتې هم
شي.> ۴۴ نو خدمتګار د هغوی په مخ کې ډوډۍ کېښوده او لکه
څنګه چې څښتن فرمايلي وو هغوی ټول ماړه شول او يو څه
ورڅخه پاتې هم شول.

## د نعمان شفا

۵ ۱ نعمان د سوريې د لښکرو قوماندان ؤ. څښتن د هغه او د
هغه لښکرو سره مرسته وکړه چې خپلو دښمنانو ته ماتې ورکړي، نو
د سوريې پاچا د نعمان ډېر درناوی کاوه. نعمان ډېر زړور عسکر ؤ
مګر د جذام په ناروغۍ باندې اخته ؤ.

۲ يوه ورځ چې کله د سوريې لښکرو په اسراييلو باندې يرغل
وکړ، هغوی يوه وړه اسراييلۍ نجلۍ ونيوله او هغه د نعمان د ښځې
وينځه شوه. ۳ يو څه موده وروسته هغې نجلۍ خپلې باداري ته
وويل: <کشکې ستا مېړه نعمان هغه نبي ته ورشي چې په سامره کې
دی، نو هغه ته به د جذام څخه شفا ورکړي.>

۴ کله چې نعمان د هغې نجلۍ خبره پاچا ته وکړه، ۵ پاچا
ځواب ورکړ: <د اسراييلو پاچا ته ورشه. زه به ورته يو ليک
ولېږم.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نعمان دېرش زره مثقاله سپين زر، شپږ زره مثقاله سره زر او لس
جوړه کالي له ځانه سره واخيستل او روان شو. ٦ همدارنګه هغه
د اسراييلو پاچا ته ليک هم يووړ. په هغه کې داسې ويل شوي وو:
<خپل خدمتګار نعمان تاته درلېږم چې هغه ته د جذام څخه شفا
ورکړې.>

٧ کله چې د اسراييلو پاچا هغه ليک ولوست، هغه له وېرې خپل
کالي وشلول او ويې ويل: <د سوريې پاچا دا يقين لري چې زه دې
سړي ته د جذام څخه شفا ورکولای شم! آيا هغه فکر کوي چې زه
خدای يم چې د مرګ او ژوند اختيار لرم؟ هغه غواړي په دې بهانه
زمونږ سره وجنګيږي.>

٨ کله چې اليشع د خدای نبي له دې پېښې څخه خبر شو، هغه د
اسراييلو پاچا ته دغه پيغام ولېږه: <ولې دومره وېرېږې؟ هغه سړی
ماته راولېږه، ترڅو هغه پوه شي چې په اسراييلو کې نبي شته.>

٩ بيا نعمان د خپلو آسونو او جنګي ګاډيو سره روان شو او د
اليشع د کور په دروازه کې ودرېد. ١٠ اليشع يو نفر بيرون ولېږه
چې هغه ته داسې ووايي: <لاړ شه او د اردن په سيند کې اووه ځلې
خپل ځان ومينځه. نو بيا به ستا د بدن پوستکی عادي حالت ته راشي
او ببخي به روغ شې.>

١١ مګر نعمان ډېر په قهر شو او لاړ، ويې ويل: <ما فکر کاوه چې
هغه به بيرون راووزي، زما په مخ کې به ودرېږي او خپل څښتن
خدای ته به دعا وکړي، بيا به خپل لاس زما د پوستکي دپاسه تېر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړي او ما به روغ کړي. ۱۲ آیا د دمشق سیندونه، ابانه او فرفر د
اسراییلو د ټولو سیندونو څخه ښه نه دي؟ زه کولی شم چې په هغو
کې خپل ځان ومینځم او روغ شم.>

۱۳ د هغه خدمتګاران ورغلل او ورته ویې ویل: <ای زمونږ پلاره،
که چېرې هغه نبي تاسو ته ویلي وای چې کوم سخت کار وکړئ
تاسو به هغه کار کړی وای. نو څه چې هغه درته ویلي دي ولې
هماغسې نه کوئ؟ لاړ شئ خپل ځان ومینځئ نو روغ به شئ.>
۱۴ نو نعمان د اردن سیند ته ورکوز شو او لکه څنګه چې د خدای
نبي ورته ویلي وو خپل ځان یې اووه ځلې پکې ومینځه. هغه ښځې
جوړ شو او د هغه پوستکی د ماشوم د پوستکي په شان نرم شو.

۱۵ نعمان او د هغه ټول سړي بېرته الیشع ته ورغلل. نعمان د هغه
په مخ کې ودرېد او ویې ویل: <اوس زه پوه شوم چې د اسراییلو
خدای په ټوله نړۍ کې یوازېنی خدای دی. ښاغلیه، آیا زما له خوا به
سوغات قبول کړئ؟>

۱۶ الیشع ځواب ورکړ: <زه د ژوندي ښښتن په نوم چې زه یې
خدمتګار یم قسم خورم چې هیڅ شی به ستا څخه وانخلم.>

نعمان زاری کولې، مګر الیشع نه منل. ۱۷ په آخر کې نعمان وویل:
<که چېرې دا سوغات قبول نه کړئ، نو اجازه راکړئ چې د دې
ځای له خاورو څخه دوه قچرې بار کړم او د ځان سره یې یوسم.
ځکه چې له همدا اوس نه به زه د اسراییلو له ښښتن څخه پرته کوم
بل خدای ته قرباني یا سوځېدونکې نذرانې وړاندې نه کړم. ۱۸

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مګر کله چې د سوريې پاچا د رمون د عبادت ځای ته ننوځي چې
هلته سجده وکړي او هغه زما په مړوند تکيه کوي او پخپله هم سجده
کوم، نو څښتن ته زاری کوم چې ما وبخښي.>

١٩ اليشع په ځواب کې وويل: <خپل کور ته په خير سره لاړ
شه.> وروسته بيا نعمان لاړ.

## د جيحزي حرص

نعمان لا دومره ليرې نه ؤ تللی، ٢٠ چې جيحزي د خپل ځان سره
وويل: <اليشع دغه سوريايي ډېر په اسانۍ سره پرېښود. هغه بايد د
نعمان سوغات اخيستی وای. زه د ژوندي څښتن په نوم قسم خورم
چې زه به د هغه پسې وځغلم او يو څه به ورڅخه واخلم.> ٢١ نو
هغه په چټکۍ سره نعمان پسې ورغی.

کله چې نعمان وليدل چې جيحزي د هغه پسې منډې وهي، هغه د
خپلې ګاډۍ څخه راښکته شو چې د هغه سره ووينې. نعمان پوښتنه
وکړه: <خيريت دی؟>

٢٢ جيحزي ځواب ورکړ: <هو، خيريت دی، مګر بادار مې زه
راولېږلم چې تاته ووايم همدا اوس د نبيانو د ډلې دوه غړي د افرايم
د غرنۍ سيمې څخه رارسېدلي دي. هغه غواړي چې ته هغوی ته د
سپينو زرو درې زره ټوټې او دوه جوړې ظريفې جامې ورکړې.>
٢٣ نعمان ځواب ورکړ: <بې شکه، د دې اندازې دوه چنده سپين
زر ولې نه اخلې؟> هغه جيحزي په دې باندې راضي کړ چې هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټول واخلي، بیا یې هغه سپین زر په دوه کڅوړو کې وتړل. هغه دا
کڅوړې او کالي خپلو دوو خدمتګارانو ته وسپارل او هغوی دا شیان
د جیحزي څخه مخکې یوړل. ۲۴ کله چې هغوی هغې غونډۍ ته
ورسېدل چې الیشع پکې اوسېده، جیحزي هغه کڅوړې د خدمتګارانو
څخه واخیستلې او په کور کې یې کېښودلې. بیا هغه د نعمان
خدمتګاران بېرته ولېږل. ۲۵ جیحزي بېرته کور ته ننوت او الیشع د
هغه څخه پوښتنه وکړه: <چېرته وې؟>

هغه ځواب ورکړ: <بناغلیه، هېڅ چېرې نه وم تللی.>

۲۶ مګر الیشع وویل: <آیا ته پوه نه شوې، کله چې نعمان د خپلې
جنګي ګاډۍ څخه راکوز شو چې ستا سره وګوري زما روح هلته ؤ؟
آیا دا د دې وخت دی چې ته پیسې او کالي، د زیتونو او انګورو
باغونه، پسونه او پادې یا غلامان او وینځې واخلې؟ ۲۷ په دې
سبب چې تا دا کار کړی دی، نو اوس به د نعمان جذام په تا باندې
راشي او ته او ستا اولاده به تل په دې ناروغۍ باندې اخته وې!>

ناڅاپه د جیحزي پوستکی د جذام له کبله د واورې په شان سپین شو
او هغه لاړ.

## د تبر د سر معجزه

۶ ۱ یوه ورځ د نبیانو ډلې الیشع ته ووېل: <په کوم ځای کې
چې مونږ ستاسو د مشرۍ لاندې اوسېږو، ډېر کوچنی ځای دی. ۲

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مونږ ته اجازه راکړئ چې د اردن سيند ته لاړ شو او مونږ هر يو، يوه
يوه ونه ووهو ترڅو وکولای شو د اوسېدلو دپاره يو ځای جوړ
کړو.>

اليشع ځواب ورکړ: <ځئ، لاړ شئ!>

٣ د نبيانو له ډلې شخه يو تن پوښتنه وکړه: <تاسو زمونږ سره نه
ځئ؟>

اليشع ځواب ورکړ: <هو، درسره ځم> ٤ او هغه ورسره لاړ.

کله چې هغوی د اردن سيند ته ورسېدل نو د ونو په وهلو يې پيل
وکړ. ٥ هغه وخت چې يو نبي کار کاوه، د هغه تبر د لاستي څخه
ووت او په اوبو کې ولوېد. هغه چيغې ووهلې: <آه ای زما باداره! دا
تبر ما د چا څخه امانت اخيستی ؤ.>

٦ اليشع د خدای نبي پوښتنه وکړه: <هغه په کوم ځای کې
ولوېد؟> سړي هغه ځای ته په ګوته اشاره وکړه او اليشع يو لرګی
پرې کړ او په هماغه ځای کې يې په اوبو کې واچاوه. د تبر سر د
اوبو سطحې ته راپورته شو او د اوبو دپاسه ګرځېده. ٧ اليشع هغه
ته وويل: <اوس يې راواخله.> سړي لاس وراوږد کړ او هغه يې
راونيوه.

## د سوريې د لښکرو ماتې

٨ د سوريې پاچا د اسراييلو سره جنګ کاوه. هغه د خپلو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عسکري منصبدارانو سره مشوره وکړه او د خېمو د ودرولو دپاره يې
يو ځای غوره کړ.

٩ مګر اليشع د اسراييلو پاچا ته دا خبرداری ورولېږه: <هغه
ځای ته نژدې ورنه شئ. ځکه چې د سوريې لښکرو په هغه ځای کې
خېمې ودرولې دي.> ١٠ نو پاچا هغو خلکو ته چې په هغه ځای
کې اوسېدل خبرداری ورکړ چې د خپلو ځانونو ساتنه وکړي. دا کار
څو ځلې وشو.

١١ کله چې د سوريې پاچا په دې پوه شو چې څه کيږي هغه ډېر
په قهر شو. هغه خپل عسکري منصبدران راوغوښتل او پوښتنه يې
ورڅخه وکړه: <ستاسو څخه څوک د اسراييلو د پاچا پلوي کوي؟>

١٢ د هغوی څخه يو تن ځواب ورکړ: <ای اعليحضرته، هېڅوک
نه، دا يو اسراييلی نبي دی چې اليشع نوميږي. هغه خپل پاچا ته خبر
ورکوي، حتی هغه خبرې چې تاسو يې د خپلې خوب په کوټه کې
کوئ.>

١٣ پاچا حکم وکړ: <هغه چې هر چېرې وي راپيدا يې کړئ! زه
به عسکر ولېږم ترڅو هغه ونيسي.> هغوی خبر شول چې اليشع د
دوتان په ښارګوټي کې دی او پاچا ته يې خبر ورکړ. ١۴ هغه يو
لوی لښکر د آسونو او جنګي ګاډيو سره هلته ولېږه. هغوی د شپې له
خوا روان شول او هغه ښارګوټی يې کلابند کړ.

١۵ بله ورځ سهار وختي، کله چې د اليشع خدمتګار راپاڅېد او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بیرون راووت، ویې لیدل چې د سوریې لښکرو د آسونو او جنګي
ګاډیو سره ښارګوټی کلابند کړی دی. هغه الیشع ته راستون شو او
پوښتنه یې ورڅخه وکړه: <ای زما باداره، څه وکړو؟>

١٦ الیشع ځواب ورکړ: <مه ویرېږه! زمونږ لښکرې د هغوی په
پرتله زیاتې دي.> ١٧ بیا هغه داسې دعا وکړه: <ای څښتنه، د
هغه سترګې وغړوه چې ووینې.> او څښتن د هغه خدمتګار ته توان
ورکړ چې د الیشع شاوخوا غونډۍ ووینې، چې د اور لرونکو آسونو
او لمبه لرونکو ګاډیو څخه ډکې دي.

١٨ څنګه چې د سوریې لښکرې ورنږدې شوې، الیشع دعا وکړه:
<ای څښتنه، دا عسکر ړانده کړه!> نو د الیشع د دعا په اساس
څښتن هغوی ړانده کړل.

١٩ الیشع د دښمن لښکرو ته وویل: <تاسو په غلطه لاره او غلط
ښارګوټي ته راغلي یئ. ما پسې راځئ. زه به تاسو هغه سړي ته
ورسوم چې تاسو یې لټوئ.> الیشع هغوی د سامرې ښار ته بوتلل.

٢٠ کله چې ټول عسکر ښار ته ننوتل، الیشع دعا وکړه: <ای
څښتنه، اوس د دوی سترګې وغړوه چې ووینې.> نو څښتن د هغوی
سترګې وغړولې او هغوی ولیدل چې دننه په سامره کې دي.

٢١ کله چې د اسراییلو پاچا هغوی ولیدل، د الیشع څخه یې پوښتنه
وکړه: <ای ښاغلیه، آیا هغوی ووژنم؟ آیا هغوی ووژنم؟>

٢٢ الیشع ځواب ورکړ: <نه، حتی هغه لښکرې چې تا په جنګ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې هم نیولې وي، نو ته حق نه لرې چې هغوی ووژنې. د هغه په
ځای هغوی ته د خوړلو او څښلو دپاره یو څه ورکړه او هغوی
پرېږده چې بېرته خپل پاچا ته ورستانه شي.> ٢٣ د اسراییلو پاچا
هغوی ته یوه لویه مېلمستیا تیاره کړه. کله چې هغوی د خوړلو او
څښلو څخه وزګار شول، نو هغوی یې بېرته د سوریې پاچا ته
ورولېږل. له هغې وروسته د سوریې لښکرو تر ډېرې مودې پورې د
اسراییلو په سیمه باندې برید ونه کړ.

## د سامرې کلابندي او قحطي

٢٤ یو څه موده وروسته، د سوریې پاچا بنهدد خپل ټول لښکر سره
راغونډ کړ، بیا هغوی سامرې ته روان شول او هغه یې کلابنده کړه.
٢٥ هغوی خپلې کلابندۍ ته تر هغه وخته پورې دوام ورکړ ترڅو
په ښار کې د خوراک دپاره هېڅ شی پاتې نه شو. په حقیقت کې، د
خره یو سر په اتیا مثقاله سپینو زرو او د کوترې دوه سوه ګرامه
فاضله مواد په پنځه مثقاله سپینو زرو باندې خرڅېدل.

٢٦ یوه ورځ د اسراییلو پاچا د ښار په دېوال باندې قدم واهه، یوې
ښځې هغه ته نارې کړې: <ای اعلیحضرته، زما سره مرسته وکړئ!>

٢٧ پاچا وویل: <څښتن چې ستا سره مرسته نه کوي، نو زه یې
څنګه وکړم؟ آیا ته فکر کوې چې زما سره غلې دانې یا د انګورو
شراب شته چې تاته یې درکړم؟> ٢٨ وروسته هغه د ښځې څخه
وپوښتل: <څه شکایت لرې؟>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغې ځواب ورکړ: <دې ښځې وړاندېز درلود او ماته يې وويل: نن
ورځ ته خپل زوی دلته راوړه چې ويې خورو او زه به سبا ته خپل
زوی راوړم چې دواړه يې وخورو. ٢٩ نو ما خپل زوی پوخ کړ او
هغه مو وخوړ. بله ورځ مې هغې ښځې ته وويل چې خپل زوی
راوړه چې ويې خورو، خو هغه يې پټ کړ.>

٣٠ کله چې پاچا دا کيسه واورېدله، هغه له غمه خپل کالي وشلول.
څرنګه چې هغه د ښار په دېوال باندې ولاړ ؤ، نو خلکو وليدل چې
هغه د خپلو کاليو لاندې د وير کالي اغوستي وو. ٣١ هغه وويل:
<خدای دې ما ووژني چې د ورځې د ختمېدو څخه مخکې د اليشع
سر د تنې نه پرې نه کړی شي!> ٣٢ نو هغه د اليشع پسې يو
استازی ولېږه چې هغه راولي.

په هغه وخت کې اليشع په خپل کور کې ؤ او د اسراييلو ډېرو مهمو
سپين ږيرو د هغه سره غونډه درلوده. مخکې له دې چې د پاچا
استازی وررسيږي، اليشع هغو ته وويل: <آيا پوهېږئ چې هغه
قاتل، يو نفر زما د سر د پرېکولو دپاره رالېږلی دی؟ هرکله چې هغه
راشي، دروازه بنده کړئ او هغه دننه مه راپرېږدئ. زه يقين لرم چې د
هغه بادار به په خپله هم د هغه پسې راشي.>

٣٣ د اليشع خبرې پای ته نه وې رسېدلې، چې پاچا راورسېد. هغه
وويل: <دا څښتن دی چې په مونږ باندې يې دا کړاو راوستی دی.
نور ولې د هغه مرستې ته انتظار وباسم؟>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ ١ الیشع ځواب ورکړ: <د ښښتن خبرو ته غوږ ونیسه، چې
هغه فرمایلي دي: سبا به په همدې وخت په سامره کې یو من د غنمو
اوړه یا دوه منه اوربشې په یو مثقال سپینو زرو باندې خرڅې شي.>

٢ د پاچا هغه منصبدار چې شخصي خدمتګار یې ؤ الیشع د
خدای نبي ته وویل: <زه په دې باندې باور نه لرم! حتی که ښښتن د
اسمان څخه د غلو دانو باران هم ووروي، داسې به ونه شي.>

الیشع ځواب ورکړ: <ته به په خپلو سترګو هغه ووینې چې داسې به
وشي، مګر ته به له هغو څخه هېڅ هم ونه خورې.>

## د سوریې د لښکرو تېښته

٣ په همدې وخت کې څلور نفره چې په جذام باندې اخته وو د
سامرې د دروازې څخه بیرون وو. هغوی یو او بل ته وویل: <مونږ
ولې دلته کښېنو او مرګ ته انتظار وباسو؟ ٤ ښار ته ننوتل ګټه نه
لري، ځکه چې مونږ به هلته له لوږې څخه مړه شو، مګر که دلته
پاتې شو، هم مړه کېږو. نو راځئ چې د سوریې کمپ ته ورشو، که
هغوی زمونږ سره ډېر بد هم وکړي نو مونږ به ووژني، خو کېدای شي
چې هغوی مونږ ژوندي پرېږدي.> ٥ نو څنګه چې تیاره کېدله،
هغوی د سوریې کمپ ته ورغلل، مګر کله چې هغوی هلته ورسېدل،
هلته هېڅوک نه ؤ. ٦ ښښتن په سوریایانو باندې داسې آواز
واوروه لکه چې یو لوی لښکر د آسونو او جنګي ګاډیو سره راروان
وي. سوریایانو داسې فکر کاوه چې د اسراییلو پاچا د حیتیانو او
مصریانو پاچاهان اجیران نیولي دي او د هغوی لښکرې به ورباندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بريد وکړي. ۷ نو په هماغه ماښام سوريايان د خپل ژوند د
ژغورلو په خاطر وتښتېدل. خپلې خېمې، آسونه او خره يې پرېښودل
او کمپ يې لکه څنګه چې ؤ هماغسې پرېښود.

۸ کله چې هغه څلور جذاميان د کمپ يوې ګوښې ته ورسېدل،
هغوی يوې خېمې ته ورننوتل. هغوی وخوړل او ويې څښل او سپين
زر، سره زر او کالي چې يې پيدا کړل هغه يې د ځان سره يوړل او
پټ يې کړل. بيا د دويم ځل دپاره راغلل، بلې خېمې ته ورننوتل او
هرڅه يې چې لاس ته راوړل هغه يې د ځان سره يوړل او هغه يې
هم پټ کړل. ۹ بيا هغوی يو او بل ته وويل: <مونږ بايد دا کار
ونه کړو! مونږ ښه زېری لرو او هغه بايد د خپلو ځانونو سره ونه
ساتو. که چېرې مونږ غلې پاتې شو او تر سهاره پورې صبر وکړو، نو
مونږ به د سزا وړ شو. راځئ چې همدا اوس لاړ شو او د پاچا
درباريانو ته خبر ورکړو.> ۱۰ نو هغوی بېرته سامرې ته لاړل، د
ښار د دروازې ساتونکو ته يې غږ وکړ او هغوی ته يې وويل: <مونږ
همدا اوس د سوريايانو د لښکرو د کمپ څخه راغلو، ټول عسکر
تللي وو! آسونه او خره تړلي پاتې شوي وو او خېمې هماغسې
ولاړې وې. مونږ هېڅوک ونه ليده او نه مو د چا آواز واورېد.>

۱۱ ساتونکو د دې خبر اعلان وکړ او بيا وروسته د پاچا ماڼۍ ته دا
خبر ورسېد. ۱۲ لا شپه وه، چې پاچا له خپلې بسترې څخه
راپاڅېد او خپلو درباريانو ته يې وويل: <زه پوهېږم چې سوريايانو
څه پلان جوړ کړی دی! هغوی خبر دي چې مونږ له لوږې څخه مړه
کېږو، نو هغوی خپل کمپ پرېښی او تللي دي او په باندو کې پټ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوي دي. هغوی فکر کوي چې مونږ به د ډوډۍ پیدا کولو دپاره ښار
پرېږدو. بیا به مونږ ژوندي ونیسي او ښار ته به رانوځي.>

۱۳ د هغه د درباریانو څخه یو تن وویل: <د دې ښار خلک هسې
هم د هغو خلکو په شان چې پخوا مړه شوي دي، د مرګ په حال کې
دي. پرېږدئ چې یو څو سړي د پاتې شویو آسونو څخه پنځه آسونه
خوښ کړي، ترڅو هغوی ولېږو او دا څرګنده کړو چې څه پېښ
شوي دي.> ۱۴ هغوی یو څو نفره غوره کړل او پاچا هغوی په
دوه جنګي ګاډیو کې ولېږل او امر یې ورته وکړ چې لاړ شي او دا
خبره معلومه کړي چې د سوریې په لښکرو باندې څه شوي دي.
۱۵ هغه نفر د اردن د سیند پورې لاړل او هغوی په ټوله لاره کې
ولیدل چې سوریایانو د تېښتې په وخت کې کالي او سامانونه
غورځولي دي. بیا هغوی بېرته راستانه شول او پاچا ته یې راپور
ورکړ. ۱۶ د سامرې خلک بیرون ووتل او د سوریایانو کمپ یې
لوټ کړ. لکه څنګه چې څښتن فرمایلي وو، یو من د غنمو اوړه یا
دوه منه اوربشې په یو مثقال سپینو زرو باندې خرڅېدلې.

۱۷ د اسراییلو پاچا هغه منصبدار چې ځانګړي خدمتګار یې ؤ، د
ښار د دروازې د مسؤول په توګه وټاکه. لکه څنګه چې الیشع په هغه
وخت کې چې پاچا د هغه د لیدلو دپاره ورغلی ؤ، وړاندوینه کړې
وه، نوموړی منصبدار د خلکو تر پښو لاندې شو او مړ شو. ۱۸
الیشع پاچا ته ویلي وو: <سبا په همدې وخت په سامره کې به یو
من د غنمو اوړه او دوه منه اوربشې په یو مثقال سپینو زرو باندې
خرڅیږي.> ۱۹ هغه منصبدار په ځواب کې ویلي وو: <زه په دې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې باور نه لرم! حتی که څښتن د اسمان څخه د غلو دانو باران هم
ووروي، داسې به ونه شي.> او اليشع ځواب ورکړی ؤ: <ته به په
خپلو سترګو هغه ووينې چې داسې به وشي، مګر ته به له هغو څخه
هېڅ هم ونه خورې.> ٢٠ او د اليشع وړاندوينه ترسره شوه – هغه
منصبدار د ښار په دروازه کې د خلکو د پښو لاندې مړ شو.

## شونيمې ښځه او د هغې ځمکه

٨ ١ اليشع هغې ښځې ته چې د هغې زوی يې بېرته راژوندی
کړی ؤ وويل: <د خپلې کورنۍ سره کوم بل ځای ته لاړه شه او هلته
د يو څه مودې دپاره واوسېږه، ځکه چې څښتن په دې هېواد باندې
قحطي راولي او هغه به تر اوو کالو پورې دوام وکړي.> ٢ لکه
څنګه چې د خدای نبي اليشع ويلي وو هغې ښځې کټ مټ همداغسې
وکړل او هغه لاړه چې د فلسطينيانو په هېواد کې واوسېږي. هغه د
خپلې کورنۍ سره اووه کاله په هغه ځای کې واوسېدله.

٣ د اوو کالو په پای کې، هغه اسراييلو ته راستنه شوه، پاچا ته
لاړه او ورته زاری يې وکړې چې کور او جايداد يې بېرته ورکړل
شي. ٤ په دې وخت کې، پاچا د اليشع د خدمتګار جيحزي سره
خبرې کولې. د هغه څخه يې وغوښتل چې د اليشع د ټولو
حيرانوونکو کارونو په هکله معلومات ورکړي. ٥ په داسې حال
کې چې جيحزي هغه ته د هغه مړ هلک په هکله چې اليشع بېرته
راژوندی کړی ؤ خبرې کولې، هغه ښځه د خپل زوی سره راورسېدله
چې پاچا ته عرض وکړي. جيحزي وويل: <ای اعليحضرته! هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښځه دا ده او دا د هغه زوی دی چې الیشع راژوندی کړی دی.<
۶ پاچا هغې ښځې ته ووېل چې خپله کیسه بیان کړي او هرڅه
چې پېښ شوي وو هغې ورته بیان کړل. بیا پاچا د خپلو درباریانو
څخه یو تن ته ووېل: >ټول جایداد هغې ته بېرته ورکړه، برسېره
پردې د ځمکې عایدات د هغې ورځې نه چې هغه له دې ځای نه
تللې وه تر اوسه پورې هم ورکړه.<

## د حزاییل له خوا د بنهدد وژنه

۷ الیشع هغه وخت دمشق ته لاړ چې د سوریې پاچا بنهدد ناروغ
ؤ. کله چې پاچا ته یې خبر ورکړ چې الیشع دلته راغلی دی، ۸
هغه حزاییل ته ووېل: >د خدای د نبي الیشع دپاره د ځان سره یو
سوغات واخله، لاړ شه، د هغه سره وګوره او ورته ووایه چې د
څښتن څخه پوښتنه وکړي چې زه به روغ شم که نه.<

۹ بیا حزاییل د خلوېښتو اوښانو سره چې د دمشق ډېر ښه
تولیداتورباندې بار وو روان شو او الیشع ته یې د سوغات په توګه
یوړل. هغه نبي راپیدا کړ او ورته ویې ویل: >ستاسو خدمتګار بنهدد
پاچا زه ستاسو حضور ته رالېږلی یم ترڅو په دې پوه شم چې هغه به
روغ شي که نه.<

۱۰ الیشع حزاییل ته ووېل: >هغه ته ووایه چې ته به روغ شې،
مګر څښتن ماته مخکې فرمایلي وو چې په حقیقت کې به بنهدد
خامخا مړ شي.< ۱۱ الیشع حزاییل ته داسې په ځیر کتل تر هغې
چې هغه وشرمېده، بیا الیشع وژړل.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ حزاییل پوښتنه وکړه: <ای ښاغلیه، ولې ژاړئ؟>

الیشع ځواب ورکړ: <ځکه زه پوهېږم چې ته به د اسراییلو قوم ته
ډېر زیان ورسوې. ته به د هغوی دېوال لرونکي ښارونه وسوځوې او
د هغوی ځوانان به ووژنې. د هغوی اولادونه به ټوټې ټوټې کړې او د
هغوی د امیدوارو ښځو ګېډې به هم څیرې کړې.>

۱۳ حزاییل ځواب ورکړ: <زما په شان یو معمولي انسان دومره
غټ کار څنګه کولی شي؟>

الیشع ورته وویل: <ای حزاییله، څښتن ماته ښودلي دي چې ته به د
سوریې پاچا شې.>

۱۴ حزاییل بېرته بنهدد ته ورغی. بنهدد ورڅخه پوښتنه وکړه:
<الیشع څه وویل؟>

حزاییل ځواب ورکړ: <هغه وویل چې ته به هرومرو روغ شې.>
۱۵ مګر په راتلونکې ورځ، حزاییل یوه کمپله راواخیسته، په اوبو
کې یې خیشته کړه او د پاچا په مخ باندې یې کېښوده تر هغې پورې
چې د هغه ساه بنده شوه او هغه مړ شو. بیا حزاییل د هغه په ځای
پاچا شو.

## د یهودا پاچا یهورام

(دویم تواریخ ۲۱: ۱ – ۲۰)

۱۶ په اسراییلو کې د اخاب د زوی یورام د پاچاهۍ په پنځم کال،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د یهوشافاط زوی یهورام د یهودا پاچا شو. ۱۷ یهورام د دوه دېرشو
کالو په عمر ؤ چې پاچا شو او اته کاله يې په اورشلیم کې پاچاهي
وکړه.

۱۸ یهورام لکه د اخاب د کورنۍ په شان د اسراییلو د پاچاهانو
لاره غوره کړه. د اخاب لور د یهورام ښځه وه او هغه د څښتن په
وړاندې ګناه وکړه، ۱۹ مګر څښتن نه غوښتل چې یهودا له منځه
یوسي، ځکه چې هغه د خپل خدمتګار داود سره ژمنه کړې وه چې د
هغه اولاده به تل په یهودا باندې پاچاهي کوي.

۲۰ د یهورام په پاچاهۍ کې، د ادوم خلک یاغي شول او د ځان
دپاره يې خپل پاچا وټاکه. ۲۱ نو یهورام د خپلو ټولو جنګي ګاډیو
سره صعیر ته روان شو، چې هلته ادومي لښکر هغوی کلابند کړل. د
شپې هغه او د هغه د جنګي ګاډیو قوماندانانو کلابندي ماته کړه او د
یهورام عسکر خپلو کورونو ته وتښتېدل. ۲۲ یهودا هېڅکله ونه شو
کولی چې په ادوم باندې خپله واکمني بېرته تر لاسه کړي. حتی د لبنه
ښاریان هم په هغه وخت کې یاغي شول.

۲۳ د یهورام د پاچاهۍ نورې پېښې او دا چې هغه څه کړي دي د
یهودا د پاچاهانو د تاریخ په کتاب کې لیکل شوي دي. ۲۴ یهورام
مړ شو او د داود د ښار په شاهي هدیره کې ښخ شو او د هغه زوی
اخزیا د هغه په ځای پاچا شو.

## د یهودا پاچا اخزیا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۵ په اسراییلو کې د یورام د پاچاهۍ په دولسم کال، د یهورام
زوی اخزیا د یهودا پاچا شو. ۲۶ اخزیا د دوه ویشت کالو په عمر
ؤ چې پاچا شو او یو کال یې په اورشلیم کې پاچاهي وکړه. د هغه
مور عتلیا وه چې د اسراییلو د پاچا عمري لمسۍ وه. ۲۷ څرنګه
چې اخزیا د اخاب د کورنۍ سره د خېښۍ اړیکې درلودلې، نو هغه
هم د هغوی په شان د څښتن په وړاندې ګناه وکړه.

۲۸ اخزیا د اسراییلو د پاچا یورام سره لاړ چې د جلعاد په راموت
کې په حزاییل پاچا او د سوریې په لښکرو باندې برید وکړي. په دې
جګړه کې سوریایانو یورام ټپي کړ. ۲۹ نو هغه د یزرعیل ښار ته
راستون شو چې ټپ یې روغ شي. اخزیا د هغه د لیدلو دپاره هلته
ورغی.

## ییهو او د تخت نیونه

۹ ۱ په دې دوران کې الیشع د نبیانو د ډلې څخه یو نبي
راوغوښت او ورته وېې ویل: >په جلعاد کې د راموت ښار ته د تګ
دپاره تیار شه. دا د زیتونو د تېلو بوتل له ځانه سره واخله او هلته
لاړ شه. ۲ کله چې هلته ورسېدلې، د یهوشافاط زوی او د نمشي
لمسی ییهو راپیدا کړه. هغه یو داسې کوټې ته بوځه چې د خپلو
ملګرو څخه جلا وي، ۳ بیا د هغه په سر باندې د زیتونو تېل
واچوه. هغه ته داسې ووایه: څښتن فرمایي چې ته مې د اسراییلو د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاچا په توګه غوره کړی يې. کله چې دا کار سرته ورسېد، پرته له
ځنډه دروازه خلاصه کړه او د هغه ځای څخه وتښته!>

۴ بیا هغه نبي راموت ته لاړ. ۵ کله چې هغه هلته ورسېد، د
لښکرو منصبدارانو غونډه درلودله. هغه وویل: <ای ښاغلیه، زه ستا
دپاره يو پيغام لرم.>

ییهو پوښتنه وکړه: <زمونږ څخه د کوم یو دپاره؟>

نبي ځواب ورکړ: <ای ښاغلیه، ستاسو دپاره.> ۶ نو ییهو
راپاڅېده او دننه لاړ. نبي د ییهو په سر باندې د زیتونو تېل واچول او
هغه ته يې وویل: <د اسراییلو څښتن خدای اعلانوي چې زه تا د
خپل قوم اسراییلو د پاچا په توګه غوره کوم. ۷ څښتن زیاتوي:
زه غواړم چې ته د خپل بادار یعنې د اخاب کورنۍ له منځه یوسې، نو
ایزابل ته به د نبیانو او زما د نورو خدمتګارانو د وژلو په خاطر سزا
ورکړل شي. ۸ د اخاب ټوله کورنۍ او اولاده به مړه شي، زه به د
هغه په کورنۍ کې هر یو نارینه له منځه یوسم که هغه غلام وي او که
آزاد. ۹ زه به د اخاب کورنۍ د اسراییلو د پاچاهانو د نباط زوی
یروبعام او د اخیا زوی بعشا د کورنۍ په برخلیک اخته کړم. ۱۰ د
ایزابل د جسد غوښې به د یزرعیل په سیمه کې سپي وخوري او
څوک به هغه ښخه نه کړي.> نبي دا وویل، دروازه يې خلاصه کړه او
وتښتېد.

۱۱ ییهو بېرته خپلو منصبدارانو ته ورغی او هغوی ورڅخه پوښتنه
وکړه: <خیریت دی؟ هغه لېوني نبي ستا څخه څه غوښتل؟>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ییهو په ځواب کې وویل: <تاسو داسې سړی پېژنئ او پوهېږئ چې
هغه څرنګه خبرې کوي.>

١٢ هغوی پوښتنه وکړه: <نه، مونږ نه پوهېږو. هغه څه وویل؟>

ییهو ځواب ورکړ: <نبي وویل: د اسراییلو څښتن خدای اعلانوي
چې زه تا د اسراییلو د پاچا په توګه غوره کوم.>

١٣ هغوی په چالاکۍ سره خپلې چپنې راواخیستلې او په هغو
پوړو باندې یې وغوړولې چېرته چې ییهو ولاړ ؤ. یو نفر سرنی وواهه
او هر یو دا چیغې وهلې: <ییهو پاچا دی!>

## د یورام او اخزیا وژنه

١٤-١٥ نو ییهو د یورام پاچا په مقابل کې چې په یزرعیل کې ؤ
یوه دسیسه جوړه کړه. یورام هلته د دې دپاره تللی و چې د هغو
ټپونو څخه روغ شي چې په راموت کې د سوریې د پاچا حزاییل
سره په جګړه کې ورته پیدا شوي وو. نو ییهو خپلو ملګرو
منصبدارانو ته وویل: <که تاسو غواړئ چې زه پاچا شم نو هېڅوک
مه پرېږدئ چې د دې ښار څخه ووزي. کېدای شي چې هغه یزرعیل
ته لاړ شي او یورام خبر کړي.> ١٦ نو ییهو خپلې جنګې ګاډۍ
کې سپور او یزرعیل ته روان شو. یورام لا روغ شوی نه ؤ او په
همدې وخت کې د یهودا پاچا اخزیا د هغه د لیدلو دپاره راغلی ؤ.

١٧ کله چې د یزرعیل د ښارنې د برج پهره دار ولیدل چې ییهو او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغه نفر راروان دي، هغه پاچا ته غږ وکړ: <زه وینم چې یوه ډله
خلک دې خواته راروان دي.>

یورام حکم وکړ: <یو سپور استازی ولېږه او دا څرګنده کړه چې
هغوی د سولې د پاره راځي یا د جګړې د پاره.>

۱۸ یو په آس باندې سپور استازی ورووت او ییهو ته یې وویل:
<یورام پاچا غواړي په دې پوه شي چې آیا ته د سولې د پاره
راځې؟>

ییهو ځواب ورکړ: <دا تا پورې اړه نه لري، زما پسې راځه!> په
همدې وخت کې د ښارنې د برج ساتونکي وویل: <ای اعلیحضرته،
استازی وررورسېده، مګر بېرته راستون نه شو.>

۱۹ نو یورام یو بل سپور استازی ولېږه، هغه ییهو ته ورغی او ویې
ویل: <یورام پاچا غوښتل چې په دې پوه شي آیا ته د سولې دپاره
راځې؟>

ییهو ځواب ورکړ: <دا تا پورې اړه نه لري، زما پسې راځه!>

۲۰ د ښارنې د برج ساتونکي وویل: <ای اعلیحضرته، استازی
هلته ورسېده، هغه هم بېرته راستون نه شو. دا سړی لکه د یو لېوني
په شان ګاډی چلوي. هغه به خاماخا ییهو وي!>

۲۱ یورام حکم وکړ: <زما ګاډی تیاره کړئ> او ګاډی تیاره شوه.
بیا هغه او اخزیا په خپلو ګاډیو کې سپاره شول او د ییهو د لیدلو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاره ورووتل. هغوی د نابوت یزرعیلي په ځمکه کې د هغه سره
لیدنه وکړه. ٢٢ یورام پوښتنه وکړه: <ایا د سولې دپاره راځې؟>

ییهو ځواب ورکړ: <تر هغه وخته پورې چې ستا د مور بت پرستۍ
او کوډګرۍ دوام ولري زما او ستا په منځ کې سوله شوني نه ده.>

٢٣ یورام غږ وکړ: <ای اخزیا، دا خیانت دی!> د دې له ویلو سره
یورام خپله ګاډۍ راوګرځوله او وتښتېد. ٢٤ ییهو په خپل ټول قوت
سره لینده راکش کړه او یو غشی یې ګوزار کړ. غشی د یورام د اوږو
په منځ کې ولګېده او بیا د هغه په زړه کې ورننوت. هغه په خپلې
ګاډۍ کې راولوېد او مړ شو.

٢٥ ییهو خپل مرستیال بیدکار ته وویل: <د هغه مړی واخله او په
هغه ځمکه کې یې وغورځوه چې د نابوت پورې یې اړه درلودله. یاد
لره چې کله ما او تا یوځای د یورام پاچا د پلار اخاب پسې ګاډۍ
ځغلوله، څښتن د اخاب په ضد داسې وویل: ٢٦ ما د نابوت او د
هغه د زامنو قتل پرون ولیده. نو ځکه زه ژمنه کوم چې تاته به هم په
همدې ځمکه کې سزا درکړم.> بیا ییهو خپل مرستیال ته امر وکړ:
<د یورام مړی واخله او په هغه ځمکه کې یې وغورځوه چې په
نابوت پورې یې اړه درلودله، چې د څښتن ژمنه پوره شي.>

٢٧ اخزیا پاچا دا پېښه ولیدله او هڅه یې وکړه چې د بیت هګان
ښارګوټي ته وتښتي، مګر ییهو ورورسېد او امر یې وکړ: <هغه هم
ووژنئ!> نو څه وخت چې اخزیا یبلعام ته نژدې د جور کلي ته چې
په لوړه کې ؤ روان ؤ، د ییهو لښکرو هغه په غشي باندې وویشت.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه تر مجدو پورې لاړ او هلته مړ شو. ۲۸ د اخزیا منصبدارانو د
هغه مړی په جنګي ګاډۍ کې واچاوه، بېرته یې اورشلیم ته یووړ او
هغه یې د داود د ښار په شاهي هدیره کې ښخ کړ.

۲۹ اخزیا د اخاب د زوی یورام د پاچاهۍ په یوولسم کال د یهودا
پاچا شوی ؤ.

## د ایزابل وژنه

۳۰ ییهو د یزرعیل خواته روان شو او کله چې ایزابل واورېدل چې
ییهو راروان دی، رانجه یې په سترګو باندې ووهل او خپل ویښتان
یې ږمنځ کړل. بیا په کړکۍ کې ودرېدله او بیرون یې کتل. ۳۱
څنګه چې ییهو د ښار د دروازې څخه تېر شو، هغې ورته نارې کړې:
<ای زیمریه! ته قاتل یې! تا پاچا وواژه. ته دلته د سولې دپاره
راغلې یې؟>

۳۲ هغه پورته کړکۍ ته وکتل او پوښتنه یې وکړه: <آیا دلته زما د
پلویانو څخه څوک شته؟> د ماڼۍ دوه درې خصي شویو سړیو خپل
سرونه له کړکۍ څخه راوویستل ۳۳ او ییهو هغوی ته وویل: <هغه
د کړکۍ څخه لاندې راوغورځوئ!> درباریانو ایزابل لاندې
راوغورځوله او د هغې وینه په دېوال او آسونو باندې وشیندل شوه.
بیا آسونو د هغې مړی تر پښو لاندې کړ.

۳۴ ییهو دننه ماڼۍ ته ننوت چې یو څه وخوري او وڅښي. بیا هغه
وویل: <که څه هم هغه یوه لعنتي ښځه وه، خو هغه د پاچا لور وه،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو هغه دې په ښې طريقې سره ښخه کړای شي.> ۳۵ مګر کله چې
هغوی د هغې د مړي د ښخولو دپاره ووتل، هغوی يواځې د هغې
کوپړی، لاسونه او پښې راپيدا کړې. ۳۶ کله چې هغوی يېهو ته
خبر ورکړ هغه وويل: <دا هغه څه پېښ شوي دي چې څښتن د
خپل خدمتګارد تشبي ايليا په وسيله ويلي وو: سپي به د ايزابل مړی
په يزرعيل کې وخوري. ۳۷ د هغې مړی به لکه خوشايي داسې
خورې ورې شي چې هېڅوک يې ونه شي پېژندلی.>

## د اخاب د اولادې وژنه

۱۰ ۱ د اخاب اويا زامن په سامره کې اوسېدل. نو يېهو د هغه
ښار مهمو مامورانو، مشرانو او د اخاب د زامنو ساتونکو ته ليک
ورولېږه. په ليک کې هغه داسې ليکلي وو: ۲ <ستاسو ښار قوي
دی او د جنګي ګاډيو، آسونه او وسلو سره ستاسو څخه دفاع کيږي.
او زه پوهېږم چې د اخاب پاچا زامن ستاسو سره اوسيږي. نو څنګه
چې تاسو دغه ليک ولوست، ۳ تاسو د اخاب د زامنو څخه چې
تر ټولو ښه وي د پاچا په توګه وټاکئ او بيا د هغه د دفاع دپاره
وجنګيږئ.>

۴ هغوی دا ليک ولوست او ډېر ووېرېدل. هغوی يو او بل ته
ووېل: <نه يورام پاچا او نه اخزيا پاچا د هغه په مقابل کې مقاومت
کړی دی، نو مونږ به يې څنګه وکړو؟> ۵ د ماڼۍ آمر، د ښار
ښاروال، نورو مشرانو او د اخاب د زامنو ساتونکو دغه ځواب يېهو
ته ورولېږه: <ای اعليحضرته! مونږ ستاسو خدمتګاران يو او څه چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مونږ ته وایئ مونږ به هماغسې کوو. مګر دا زمونږ کار نه دی چې
څوک د پاچا په توګه وټاکو. هرڅه چې ستاسو په نظر کې ښه
ښکاري هماغسې وکړئ.>

٦ بیا ییهو یو بل لیک واستاوه چې په هغه کې ویل شوي وو:
<که تاسو زما پلوي او اطاعت کوئ، نو هغه ثابت کړئ. د اخاب د
زامنو سرونه ماته راوړئ! او سبا په همدې وخت باید دلته په یزرعیل
کې حاضر شئ.>

د اخاب پاچا زامن اویا تنه وو چې د ښار د ځینو مهمو خلکو سره
اوسېدل او د هغوی ښوونه او روزنه یې کوله. ٧ کله چې د ییهو
دویم لیک راورسېد، هغو مهمو خلکو د اخاب ټول زامن ووژل. بیا
یې د هغو سرونه په ټوکریو کې کېښودل او هغه یې ییهو ته چې په
یزرعیل کې ؤ ولېږل.

٨ کله چې یو استازي ییهو ته خبر ورکړ چې د اخاب د زامنو
سرونه یې راوړي دي، هغه وویل: <دا سرونه د ښار په دروازه کې
دوه ځایه ډېرۍ کړئ او تر سهاره پورې یې هلته پرېږدئ.>

٩ په سهار کې، ییهو بیرون ووت. هغه د ټولو خلکو په مخ کې
ودرېد او ویې ویل: <ای خلکو، تاسو هېڅ جرم نه دی کړی. ما د
خپل بادار یورام په ضد دسیسه جوړه کړه او هغه مې وواژه. مګر دا
ټول نفر چا ووژل؟ ١٠ تاسو باید پوه شئ هرڅه چې څښتن د
اخاب د اولادې په اړه ویلي وو، هغه سرته رسیږي. څښتن هغه کار
وکړ چې وعده یې د خپل نبي ایلیا په وسیله کړې وه.> ١١ بیا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ییهو د اخاب نور خپلوان چې په یزرعیل کې اوسېدل، د هغه لوړ رتبه
درباریان، د هغه کاهنان او د هغه ډېر نژدې دوستان ووژل. په یزرعیل
کې د اخاب د کورنۍ څخه هېڅوک ژوندی پاتې نه شو.

١٢ ییهو سامرې ته روان شو او په لاره کې په هغه ځای کې چې
شپانه به پکې راټولېدل ١٣ د یهودا د پاچا اخزیا د خپلوانو سره
مخامخ شو. هغه پوښتنه وکړه: <تاسو څوک یئ؟>

هغوی ځواب ورکړ: <مونږ د اخزیا خپلوان یو. مونږ د شازادګانو او
د ملکه ایزابل د کورنۍ د لیدلو دپاره روان یو.>

١۴ ییهو خپلو سړیو ته وویل: <هغوی ژوندي ونیسئ!> نو هغوی
یې ونیول او د شپنو د راغونډېدلو ځای ته نژدې د کندې غاړې ته
یې بوتلل او هغه ټول دوه څلوېښت نفره یې ووژل.

١۵ څنګه چې ییهو روان شو، د رکاب زوی یهوناداب یې ولید چې
د ده د لیدلو دپاره راروان ؤ. ییهو هغه ته ښه راغلاست ووایه، بیا یې
زیاته کړه: <ای یهونادابه، زه ستا پلوي کوم. آیا ته هم زما پلوي
کوې؟>

هغه ځواب ورکړ: <هو، زه یې کوم.>

ییهو ځواب ورکړ: <نو خپل لاس دې ماته راکړه> او ییهو ورسره
مرسته وکړه او په ګاډۍ کې یې سپور کړ. ١۶ او ییهو وویل: <زما
سره راشه او وګوره چې زه څښتن ته څومره وفادار یم.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی دواړه د ییهو په ګاډي کې سپاره شول. ١٧ لکه څنګه چې
څښتن د ایلیا سره وعده کړې وه، کله چې هغوی سامرې ته ورسېدل،
ییهو د اخاب ټول خپلوان ووژل، حتی یو یې هم ژوندی پرېنښود.

## د بعل د بت پرستانو وژنه

١٨ ییهو د سامرې ټول خلک سره راغونډ کړل او ورته ویې ویل:
<اخاب پاچا د بعل لږ خدمت کاوه، خو زه به د هغه زیات خدمت
وکړم. ١٩ زه غواړم چې هغه ته یوه لویه قرباني وړاندې کړم. نو د
هغه ټول نبیان، کاهنان او عبادت کوونکي دلته راغونډ کړئ. هرڅوک
چې رانغی هغه به ووژل شي.> مګر دا یو چل ؤ، ییهو په رښتیا سره
دا پلان درلود چې د بعل عبادت کوونکي ووژني. ٢٠ هغه وویل:
<د بعل دپاره د عبادت ورځ اعلان کړئ!> وروسته له دې چې هغه
ورځ اعلان شوه، ٢١ ییهو د اسراییلو ټول هېواد ته دا خبر ولېږه. د
بعل ټول عبادت کوونکي راغلل، یو هم پاتې نه شو او د عبادت ځای
له یو سر څخه تر بله سره پورې ډک شو. ٢٢ ییهو د سپېڅلو چپنو
مسؤول ته امر وکړ: <چپنې راوړه او هغه عبادت کوونکو ته
ورکړه.>

٢٣ وروسته ییهو او یهوناداب د عبادت ځای ته ننوتل او ییهو
خلکو ته وویل: <شا او خواته وګورئ او متوجې اوسئ چې دلته
باید یواځې د بعل عبادت کوونکي وي. هغه چاته چې د څښتن
عبادت کوي د ننوتلو اجازه مه ورکوئ.> ٢٤ بیا هغوی بعل ته د
قربانۍ په وړاندې کولو باندې پیل وکړ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

له مخکې شخه يېهو اتيا سړي له دې خبرداري سره بيرون ودرول:
>دا ټول عبادت کوونکي ووژنئ! که چېرته ستاسو شخه چا حتی يو
نفر هم پرېښود چې وتښتي نو هغه به د هغه په ځای وژل کيږي!<

۲۵ شنګه چې يېهو د قرباني وړاندې کول پای ته ورسول، هغه
ساتونکو او منصبدارانو ته وويل: >راننوځي او هغوی ووژنئ! يو هم
مه پرېږدئ چې وتښتي.< هغوی د خپلو تورو سره ورننوتل، ټول يې
ووژل او د هغوی مړي يې بيرون وغورځول. بيا هغوی د عبادت د
ځای دننني کوټې ته ننوتل، ۲۶ د بعل بت يې وويست او هغه يې
وسوځاوه. ۲۷ بيا يې هغه ټوټې ټوټې کړ او هغوی د بعل د عبادت
ځای بېخي له منځه يووړ. د عبادت ځای يې په تشناب باندې بدل
کړ، چې تر نن ورځې پورې پاتې دی.

۲۸ په دې ډول يېهو په اسراييلو کې د بعل عبادت له منځه يووړ.
۲۹ خو هغه ګناه يې بنده نه کړه چې يروبعام پاچا کړې وه، څوک
چې د اسراييليانو د ګناه سبب ګرځېدلی ؤ. هغوی د سرو زرو
سخوندرانو د مجسمو عبادت کاوه، هغه چې يروبعام په بيت ييل او
دان کې ايښې وې.

۳۰ وروسته ښښتن وويل: >ای يېهو، تا زما پلان چې د اخاب د
کورنۍ په هکله مې درلود عملي کړ او دا ښه کار دې سرته ورساوه.
نو زه ستا سره وعده کوم چې د اسراييلو راتلونکي څلور پاچاهان به
ستا د خپلې کورنۍ شخه وي.<

۳۱ مګر يېهو د اسراييلو د ښښتن خدای د حکمونو شخه د زړه له

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کومي اطاعت ونه کړ. د هغه په ځای هغه داسې د ګناه څخه ډک
کارونه وکړل چې یروبعام کړي وو او د اسراییلیانو د ګناه سبب
ګرځېدلی ؤ.

## د ییهو مړینه

٣٢ په هغو ورځو کې څښتن د اسراییلو د هېواد په کوچني کولو
پیل وکړ. حزاییل د سوریې پاچا اسراییلو ته ماتې ورکړه. ٣٣
حزاییل د اردن د سیند ختیځې سیمې یعنې د جلعاد او باشان سیمې
او د ارنون سیند ته نژدې د عروعیر د ښارګوټي په شمال کې سیمه تر
واک لاندې راوستلې. دا هغه سیمې وې چې د جاد، روبین او منسي
قبیلې پکې اوسېدلې.

٣٤ نور هغه ټول کارونه چې ییهو کړي دي چې په هغو کې د هغه
د زړورتوب کارونه هم شامل دي، د اسراییلو د پاچاهانو د تاریخ په
کتاب کې لیکل شوي دي. ٣٥ ییهو مړ او په سامره کې ښخ شو او
د هغه زوی یهواخاز د هغه په ځای پاچا شو. ٣٦ ییهو په سامره
کې په اسراییلو باندې اته ویشت کاله پاچاهي کړې وه.

## د یهودا ملکه عتلیا

(دویم تواریخ ٢٢: ١٠ – ١٢)

١١ ١ څنګه چې عتلیا واورېدل چې د هغې زوی اخزیا پاچا
وژل شوی دی، هغې پرېکړه وکړه چې د شاهي کورنۍ ټول غړي دې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووژل شي. ۲ يواځې د اخزيا زوی يوآش ژوندی پاتې شو. نژدې
ؤ چې هغه هم د نورو سره ووژل شي، مګر د يهورام پاچا د لور
يهوشبع له خوا چې د اخزيا خور وه هغه وژغورل شو. هغې يوآش او
د هغه دايي د عتليا څخه د خدای د کور د خوب په کوټه کې پټ
کړل، ځکه هغه ونه وژل شو. ۳ يوآش د يهوشبع سره د ښبنتن په
کور کې د شپږو کالو دپاره چې ملکې عتليا په يهودا کې پاچاهي
کوله، پټ پاتې شو.

## د پاچا په توګه د يوآش ټاکنه

(دويم تواريخ ۲۳: ۱ – ۱۵)

۴ د ملکې عتليا د حکومت په اووم کال، يهوياداع کاهن د پاچا او
د ماڼۍ د ساتونکو قوماندانان راوغوښتل. د هغوی سره يې د خدای
په کور کې ليدنه کتنه وکړه او هغوی يې د قسم له ورکولو سره د خپل
پلان دپاره رضا کړل. بيا يې يوآش د اخزيا زوی هغوی ته وروښود.
۵ هغوی ته يې امر وکړ: <ستاسو د ساتونکو درې ټولې به د
سبت په ورځ په خپله دنده کې وي. زه غواړم چې يو ټولی د ماڼۍ
ساتنه وکړي. ۶ بل ټولی به د سور دروازه ساتي او دريم ټولی به
د ماڼۍ دروازه ساتي او د ماڼۍ د ساتونکو پهره به بدلوي.

۷ د ساتونکو دوه نور ټولي به د سبت په ورځ رخصت وي. مګر
زه غواړم چې دغه دوه ټولي دې دلته د خدای په کور کې د يوآش
پاچا ساتنه وکړي. ۸ خپلې تورې تيارې کړئ او هرچا چې هڅه
کوله پاچا ته ورنژدې شي هغه ووژنئ. هر وخت او هر چېرې د پاچا
سره واوسئ.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩ قوماندانانو د يهوياداع د حکمونو څخه پيروي وکړه. هر يو
خپل ساتونکي چې د سبت په ورځ دندې ته راتلل او يا د دندې
څخه رخصتېدل يهوياداع ته يې راغونډ کړل. ١٠ يهوياداع هغه
نېزې او سپرونه قوماندانانو ته ورکړل چې د داود پاچا وو او د
څښتن په کور کې ساتل شوي وو. ١١ بيا د خدای د کور د جنوبي
خوا څخه نيولې تر شمالي خوا پورې د پاچا د ساتلو دپاره په وسلو
سمبال ساتونکو موضع ونيولې.

١٢ يهوياداع يوآش بيرون راوويست، د هغه په سر يې تاج کېښود
او د پاچاهۍ کولو د قانون يوه کاپي يې ورته ورکړه. د هغه په سر
باندې يې د زيتونو تېل واچول چې دا وښايي هغه اوس پاچا شو، په
هغه وخت کې خلکو چکچکې وکړې او چيغې يې ووهلې: <ژوندی
دې وي پاچا!>

١٣ ملکې عتليا چې د ساتونکو او خلکو شور واورېد، نو هغه د
څښتن کور ته چې خلک پکې راغونډ شوي وو، ورغله. ١٤ هغې
وليدل چې يوآش د هغې ستنې په څنګ کې ولاړ ؤ چې معمولاً هغه
ځای به د پاچا دپاره ؤ. قوماندانان او سرني غږوونکي د هغه په خوا
کې ولاړ وو او خلکو خوشحالي کوله او سرني يې غږول. عتليا له
ډېره قهره خپل کالي وشلول او چيغې يې ووهلې: <خيانت!
خيانت!>

١٥ يهوياداع سمدستي د لښکرو قوماندانانو ته امر وکړ: <هغه
ووژنئ! هغه د لښکرو د دوو صفو څخه بيرون وباسئ او هرڅوک
چې د هغې سره دې هغه هم ووژنئ! مګر دا کار هېڅکله د خدای په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کور کې ونه کړئ.> ۱۶ نو قوماندانانو عتليا هغې دروازې ته
راوويستله چې آسونه به پکې ماڼۍ ته ورننوتل او هلته يې ووژله.

## د يهوياداع اصلاحات

(دويم تواريخ ۲۳: ۱۶ – ۲۱)

۱۷ بيا يهوياداع د څښتن او د يوآش پاچا او خلکو په منځ کې
لوظ ترسره کړ چې دوی به د څښتن بنده ګان وي. هغه همدارنګه د
پاچا او د خلکو ترمنځ يو تړون وکړ. ۱۸ بيا ټول خلک د بعل
بتخانې ته ورغلل او هغه يې راوغورځوله. هغوی د قربانۍ ځايونه او
بتان ټوټې ټوټې کړل او متان چې د بعل کاهن ؤ هغه يې د قربانۍ
ځای مخې ته وواژه.

وروسته بيا يهوياداع د څښتن د کور دپاره ساتونکي ودرول. ۱۹ بيا
يهوياداع ټول قوماندانان، د پاچا او ماڼۍ ساتونکي او خلک يو ځای
سره راوغوښتل. هغوی يوآش د څښتن د کور څخه د ساتونکو د
دروازې په لار باندې ماڼۍ ته يووړ. هغه په تخت باندې کښېناست او
د يهودا پاچا شو. ۲۰ نو ټولو خلکو خوشحالي کوله او په ښار کې
کراره کراري وه، ځکه چې عتليا په ماڼۍ کې وژله شوې وه. ۲۱
يوآش اووه کلن ؤ چې د يهودا پاچا شو.

## د يهودا پاچا يوآش

(دويم تواريخ ۲۴: ۱ – ۱۶)

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۱۲

۱ په اسراییلو کې د ییهو د پاچاهۍ په اووم کال، یوآش د
یهودا پاچا شو او په اورشلیم کې یې څلوېښت کاله پاچاهي وکړه. د
هغه مور زبیه د بئرشبع د ښار څخه وه. ۲ په خپل ټول عمر کې
یې هغه څه وکړل چې څښتن پرې خوشحالېده، ځکه چې یهویاداع
کاهن ورته لارښودنه کوله. ۳ که څه هم سیمه یز د عبادت
ځایونه ړنګ نه شول او خلکو هلته د قربانۍ کولو او د خوشبویۍ
سوځولو ته ادامه ورکړه.

۴ یوآش کاهنانو ته وویل: <ټولې هغه پیسې راغونډې کړئ چې
د سپېڅلو نذرانو په ډول د څښتن کور ته راوړل کیږي، یعنې هغه
پیسې چې په سر شمېرنه کې راټولیږي، هغه چې د شخصي نذرونو
څخه تر لاسه کیږي او هغه پیسې چې په داوطلبانه توګه راوړل
کیږي. ۵ هر یو کاهن به پیسې اخلي او د اړتیا له مخې به یې د
څښتن د کور په بیاجوړونې کې کاروي.>

۶ د یوآش د پاچاهۍ درویشتم کال ورسېد خو کاهنانو لا هم د
څښتن د کور ترمیم نه ؤ ترسره کړی. ۷ نو یوآش، یهویاداع او
نور کاهنان راوغوښتل او ورته ویې ویل: <تاسو ولې په دې پیسو
باندې د څښتن د کور د بیاجوړونې کار نه کوئ؟ نورې پیسې مه
اخلئ. له هغو څخه باید یوائې په بیاجوړونې کې کار واخیستل
شي.> ۸ کاهنانو دا خبره ومنله چې نه به نور د خلکو څخه
پیسې راټولوي او نه به هم د څښتن د کور د بیاجوړونې مسؤولیت په
غاړه اخلي.

۹ یهویاداع د لرګي یو صندوق راپیدا کړ، د هغه سر یې سوری کړ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د قربانۍ د ځای ښي خواته يې کېښود چېرته چې خلک د څښتن
کور ته ننوتل. کله چې چا به د څښتن د کور دپاره پيسې ورکولې،
هغو کاهنانو چې د دروازې ساتنه کوله پيسې به يې په دې صندوق
کې اچولې. ۱۰ چې کله به صندوق د پيسو څخه ډک شو، د پاچا
منشي او مشر کاهن به دا پيسې شمېرلې او په کڅوړو کې به يې تړلې.
۱۱ بيا به يې هغو خلکو ته ورکولې، چې د څښتن د کور د
بياجوړونې د کار څارنه يې کوله. ځينې پيسې به معمارانو ته ورکول
کېدې، ځينې به ترکاڼانو ته ورکول کېدې، ۱۲ ځينې به د تيږو
پرېکوونکو ته ورکول کېدې او ځينې پيسې به خټګرانو ته ورکول
کېدې. په ځينو پيسو باندې به لرګي او تيږې اخيستل کېدل او ځينې
به د څښتن د کور د بياجوړونې په نورو لګښتونو باندې لګېدلې.

۱۳ هغه پيسې چې د څښتن د کور دپاره ورکړل شوې وې هغه د
سپينو زرو د کاسو په جوړولو، د پلتو په پاکوونکو، د شيندلو په
کاسو، په سرنيو يا د سرو يا د سپينو زرو په شيانو باندې نه
مصرفېدلې. ۱۴ هغه يوازې د بياجوړونې په کار باندې مصرفېدې.
۱۵ د کارونو مسؤولان صادق سړي وو، نو دې ته اړتيا نه وه چې
د هغوی څخه د پيسو حساب وغوښتل شي.

۱۶ کومې پيسې چې د تاوان او ګناه د نذرانو په نامه ورکول کېدې
د څښتن د کور دپاره نه، بلکې دا پيسې يوازې د کاهنانو دپاره وې.

۱۷ په هماغه وخت کې د سوريې پاچا حزاييل د جت په ښار
باندې بريد وکړ او هغه يې ونيو. بيا هغه پرېکړه وکړه چې په اورشليم
باندې بريد وکړي. ۱۸ نو يوآش، د خپلو ځانګړو سوغاتونو په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شمول، هغه ټول شیان راټول کړل چې د هغه پلار او نیکونو، یعنې
اخزیا، یهوشافاط او یهورام څښتن ته وقف کړي وو او پرته له دې
هغه سپین او سره زر چې د څښتن د کور او د ماڼۍ په خزانو کې وو.
هغه دا ټول حزاییل ته د سوغات په توګه ورولېږل او کله چې حزاییل
دا تر لاسه کړل، خپل لښکرو ته یې حکم ورکړ چې اورشلیم پرېږدي.

١٩ د یوآش د پاچاهۍ نورې پېښې او دا چې هغه څه کړي دي د
یهودا د پاچاهانو د تاریخ په کتاب کې لیکل شوي دي. ٢٠ د هغه
د پاچاهۍ په پای کې د هغه ځینې درباریان د ده په مقابل کې یاغي
شول. یوآش یې د اورشلیم په ختیځ کې هغې لارې ته نژدې چې
سلې ته تللې وه د ملو په کور کې په قتل ورساوه. ٢١ د هغو
قاتلانو نومونه دا دي: د شمعت زوی یوزاکار او د شومیر زوی
یهوزاباد.

یوآش د داود د ښار په شاهي هدیره کې ښخ شو او د هغه زوی
امصیا د هغه په ځای پاچا شو.

## د اسراییلو پاچا یهواخاز

١٣ ١ په یهودا کې د یوآش د پاچاهۍ په درویشتم کال د ییهو
زوی یهواخاز د اسراییلو پاچا شو. یهواخاز په سامره کې اوولس کاله
پاچاهي وکړه ٢ او د څښتن په مقابل کې یې ګناه وکړه. هغه
هېڅکله د یروبعام هغه لاره پرېنښوده چې د اسراییلو د ګناه سبب
ګرځېدلې وه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣ خښتن په اسراییلو باندې په قهر شو، نو هغه د سوریې پاچا
حزاییل او د هغه زوی بنهدد پرېښودل چې هغوی ته بیا بیا ماتې
ورکړي. ۴ یهواخاز خښتن ته د مرستې دپاره دعا وکړه او خښتن
ولیدل چې حزاییل د اسراییلو سره څومره بده رویه کوي. خښتن د
هغه دعا قبوله کړه ۵ او د اسراییلو د قوم دپاره یې یو داسې مشر
ورولېږه چې اسراییل یې د سوریایانو څخه خلاص کړل. نو اسراییلو
د مخکې په شان په خپلو کورونو کې په سولې کې ژوند کاوه. ۶
مګر اسراییلو ګناه کوله او د یروبعام د کورنۍ لاره یې غوره کړه.
هغوی د اشیره بت چې په سامره کې ودرول شوی ؤ راونه غورځاوه.

٧ د یهواخاز کوم ځواکونه پاتې نه وو، بې له پنځوس سپرو
عسکرو، لس جنګي ګاډیو او لس زره پیاده عسکرو. علت یې دا ؤ
چې د سوریې پاچا هغوی داسې تباه کړي وو لکه دوړه چې د غوبل
نه وروسته پاتې کیږي.

٨ د یهواخاز د پاچاهۍ نورې ټولې پېښې او د هغه د زورورتوب
کارونه د اسراییلو د پاچاهانو د تاریخ په کتاب کې لیکل شوي دي.
٩ یهواخاز مړ شو او په سامره کې ښخ شو او د هغه زوی یهوآش
د هغه په ځای پاچا شو.

## د اسراییلو پاچا یهوآش

١٠ په یهودا کې د یوآش د پاچاهۍ په اووه دېرشم کال یهوآش د
اسراییلو پاچا شو او په سامره کې یې شپاړس کاله پاچاهي وکړه.
١١ هغه هم د خښتن په مقابل کې ګناه وکړه او د یروبعام په شان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې کارونه وکړل څوک چې د اسراييلو د ګناه سبب ګرځېدلی ؤ.

۱۲ يهوآش چې د خپلې پاچاهۍ په وخت کې نور هرڅه کړي وو،
د هغه قوت او زړورتيا چې د امصيا په ضد په جګړه کې يې ښودلی
ؤ، د اسراييلو د پاچاهانو د تاريخ په کتاب کې ليکل شوي دي. ۱۳
يهوآش مړ شو او په سامره کې په شاهي هديره کې ښخ شو. بيا د
هغه زوی دويم يروبعام د هغه په ځای پاچا شو.

## د اليشع مړينه

۱۴ د يهوآش پاچا د مړينې څخه لږه موده مخکې اليشع نبي سخت
ناروغ او مرګ ته نژدې شو. يهوآش ورغی، د هغه په څنګ کې
ودرېد، ژړل يې او ويې ويل: <پلاره! د اسراييلو جنګي ګاډی او
سپاره عسکر به ستا څخه پرته څه وکړي؟>

۱۵ اليشع ورته وويل: <يوه لينده او يو څو غشي راواخله> او
يهوآش همداسې وکړل. ۱۶ بيا اليشع ورته وويل: <د غشي د
ويشتلو دپاره تيار شه!> پاچا همداسې وکړل. اليشع د پاچا په
لاسونو باندې خپل لاسونه کېښودل ۱۷ او ورته ويې ويل: <هغه
کړکۍ پرانيزه چې مخه يې ختيځ خواته ده.> کله چې هغه پرانيستل
شوه، اليشع وويل: <اوس وله!> يهوآش يو غشی ګزار کړ او اليشع
وويل: <هغه غشی به د دې نښه وي چې څښتن به ستا سره مرسته
وکړي چې په افيق کې به د سوريې لښکرو ته پوره ماتې ورکړې.>

۱۸ بيا اليشع زياته کړه: <نور غشي راپورته کړه او ځمکه ووباندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووهه.> یهوآش غشي راواخیستل او درې ځلې یې ځمکه ورباندې
ووهله او بس. ۱۹ الیشع د خدای نبي په پاچا باندې په قهر شو او
ویې ویل: <که چېرې تا دا پنځه یا شپږ ځلې وهلې وای، نو
سوریایان به دې بېخي له منځه وړي وای. اوس به ته یوازې درې
ځلې هغوی ته ماتې ورکړې.>

۲۰ الیشع مړ او خاورو ته وسپارل شو.

هر کال به په پسرلي کې د موآبیانو ډلو د اسراییلو په خاوره باندې
غلچکي بریدونه کول. ۲۱ یو ځل په داسې حال کې چې یو څو
اسراییلیانو د یو سړي مړی د مړو په ځانګړې سمځې کې ایښوده،
هغوی د موآبیانو یوه چریکي ډله ولیدله. اسراییلیانو په ګړندې توګه
مړی په هغې سمځې کې چې د الیشع مړی پکې ایښودل شوی ؤ،
وغورځاوه او وتښتېدل. څنګه چې د سړي مړی د الیشع په هډوکو
باندې ولګېده، سړی بېرته راژوندی شو او ودرېد.

## د سوریایانو ماتې

۲۲ د یهواخاز د پاچاهۍ په ټول دوران کې د سورېې پاچا حزاییل
اسراییلیان ځورول. ۲۳ مګر څښتن په اسراییلو باندې مهربانه ؤ او
د هغه لوظ له کبله کوم چې د هغوی د نیکونو یعنې ابراهیم، اسحاق
او یعقوب سره یې کړی ؤ، په هغوی باندې یې رحم کاوه. تر نن
ورځې پورې څښتن ونه غوښتل چې هغوی بېخي له منځه یوسي او
یا یې د خپل حضور څخه وشړي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۴ حزاییل مړ شو او بیا د هغه زوی بنهدد د سوریې پاچا شو.
۲۵ د اسراییلو پاچا یهوآش د سوریې په لښکرو باندې درې ځلې
برید وکړ او هغوی ته یې ماتې ورکړه. هغه د بنهدد څخه هغه ټول
ښارګوټي بېرته ونیول کوم چې حزاییل په جګړه کې د هغه د پلار
یهواخاز څخه نیولي وو.

## د یهودا پاچا امصیا

(دویم تواریخ ۲۵: ۱ – ۲۴)

۱۴ ۱ په اسراییلو کې د یهواخاز د زوی یهوآش د پاچاهۍ په
دویم کال، د یوآش زوی امصیا د یهودا پاچا شو. ۲ امصیا د پنځه
ویشت کلنۍ په عمر پاچا شو او په اورشلیم کې یې نهه ویشت کاله
پاچاهي وکړه. د هغه مور یهوعدان نومېدله چې د اورشلیم څخه وه.
۳ امصیا د څښتن اطاعت او ښه کارونه کول، مګر هغه د خپل
نیکه داود په شان وفادار نه ؤ. د دې په ځای یې د خپل پلار یوآش
لاره غوره کړه. ۴ امصیا سیمه یز د عبادت ځایونه ړنګ نه کړل
او خلکو لا هم هلته قرباني کولو ته او خوشبویي سوځولو ته دوام
ورکړ.

۵ څنګه چې امصیا د یهودا واک تر لاسه کړ، نو هغه درباریان
چې پاچا یعنې د ده پلار یې په قتل رسولی ؤ، ویې وژل. ۶ مګر
د هغو قاتلانو اولادونه یې ونه وژل. دا ځکه چې هغه په دې ډول د
موسیٰ د شریعت پیروي وکړه، لکه څنګه چې څښتن فرمایلي وو:
>پلرونه دې د هغو جرمونو په خاطر نه وژل کیږي چې د هغوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اولادونو کړي وي او اولادونه دي د هغو جرمونو په خاطر نه وژل
کيږي چې د هغوی پلرونو کړي وي. هرڅوک دې يواځې د هغو
جرمونو دپاره ووژل شي چې هغوی په خپله کړي وي.>

٧ امصيا د خپلې پاچاهۍ په وخت کې لس زره ادومي عسکر د
مالګې په دره کې ووژل. هغه په جګړه کې د سالع ښارګوټی ونيوه او
د هغه ځای نوم يې په يقتييل بدل کړ چې تر اوسه پورې په همدې
نوم ياديږي.

٨ يوه ورځ امصيا د اسراييلو پاچا د ييهو لمسي او د يهواخاز
زوی يهوآش ته داسې پيغام ورولېږه: <راوځه او په جګړه کې زما
سره مخامخ شه!>

٩ مګر يهوآش بېرته دا ځواب ورولېږه: <يوځل په لبنان کې د
اغزيو يو بوټي د سبر يوې ونې ته پيغام ورولېږه: ستا لور بايد زما د
زوی سره واده وکړي. مګر يو وحشي ځناور راغی او هغه بوټی يې
تر پښو لاندې کړ. ١٠ امصيا! په دې خاطر چې ادوميانو ته دې
ماتې ورکړې ده، ډېر مغرور يې. مګر دغه شهرت دې بس دی، اوس
په کور کې کښېنه. که کومه ستونځه دې رامنځته کړه، ته او ستا د
يهودا پاچاهي به له منځه لاړه شي.>

١١ مګر امصيا ورته غوږ ونه نيوه. نو يهوآش او د هغه لښکرو
بيت شمس ته چې په يهودا کې ؤ، مارش وکړ. هلته هغه او امصيا يو
د بل سره جګړه وکړه. ١٢ د يهودا لښکرو ماتې وخوړله. د يهودا
ټول عسکر بېرته خپلو کورونو ته وتښتېدل ١٣ او يهوآش، د يوآش

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زوی او د اخزیا لمسی امصیا، ونیوه. بیا یهوآش اورشلیم ته روان شو
او د ښار دېوال یې د افرایم د دروازې څخه نیولې د کنج تر دروازې
پورې وران کړ. دا د دېوال برخه نږدې ۲۰۰ متره اوږده وه. ۱۴ هغه
ټول سره او سپین زر یوړل او د څښتن په کور او د پاچا په خزانه
کې چې هر قیمتي شی ؤ هغه یې هم له ځانه سره یووړ. ځینې خلک
یې یرغمل ونیول او بیا سامرې ته راستون شو.

۱۵ د یهوآش د پاچاهۍ نورې ټولې پېښې، د هغه د زورورتوب
کارونه او دا چې څنګه یې د امصیا په ضد جګړه وکړه، د اسراییلو د
پاچاهانو د تاریخ په کتاب کې لیکل شوي دي. ۱۶ یهوآش مړ شو
او د سامرې په شاهي هدیره کې ښخ شو. بیا د هغه زوی یروبعام د
هغه په ځای پاچا شو.

## د یهودا د پاچا امصیا مړینه

(دویم تواریخ ۲۵: ۲۵ – ۲۸)

۱۷ د یهوآش د مړینې څخه وروسته امصیا پنځلس کاله ژوند وکړ.
۱۸ د امصیا د پاچاهۍ نورې پېښې او دا چې هغه څه کړي دي، د
یهودا د پاچاهانو د تاریخ په کتاب کې لیکل شوي دي. ۱۹ په
اورشلیم کې د امصیا د وژلو دپاره دسیسه جوړه شوه، نو هغه د
لاکیش ښار ته وتښتېده. مګر دښمنانو یې د امصیا پسې نور خلک
ورولېږل او هغه یې هلته وواژه. ۲۰ د هغه مړی په آس باندې بېرته
اورشلیم ته یوړل شو او د داود د ښار په شاهي هدیره کې ښخ شو.
۲۱ وروسته د یهودا خلکو شاهي تاج د هغه د شپاړس کلن زوی
عزیا په سر کېښود. ۲۲ عزیا د خپل پلار تر مړینې وروسته د ایلت

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښارګوټي د یهودا دپاره بېرته ونیوه او بیا یې ودان کړ.

## د اسراییلو پاچا دویم یروبعام

۲۳ په یهودا کې د امصیا د پاچاهۍ په پنځلسم کال د یهوآش زوی
دویم یروبعام د اسراییلو پاچا شو. هغه په سامره کې یوځلوېښت کاله
پاچاهي وکړه. ۲۴ هغه د څښتن په مقابل کې ګناه وکړه او د نباط د
زوی یروبعام له ناوړو کارونو څخه یې پیروي وکړه کوم چې د
اسراییلو د ګناه سبب ګرځېدلی ؤ. ۲۵ یروبعام د اسراییلو سیمه د
حمات څخه چې په شمال کې ؤ د مالګې تر بحیرې پورې چې په
جنوب کې ؤ وغزوله، لکه څنګه چې څښتن د خپل خدمتګار د
امتای زوی یونس سره وعده کړې وه. نوموړی نبي ؤ او د جت حافر
څخه ؤ.

۲۶ په دې کار کې څښتن د یروبعام سره مرسته وکړه ځکه چې
هغه لیدلي وو چې اسراییلیان بې له دې چې هغوی آزاد وو یا
غلامان، خومره په تکلیف کې وو او هېڅوک نه ؤ چې د هغوی سره
مرسته وکړي. ۲۷ څنګه چې څښتن وعده کړې وه پرې به نږدې
چې اسراییل ببخي له منځه لاړ شي، نو په دې خاطر څښتن د
یروبعام په وسیله هغوی وژغورل.

۲۸ د یروبعام د پاچاهۍ نورې ټولې پېښې او د هغه کارونه، قدرت،
جګړې او دا چې څنګه هغه دمشق او حمات یې چې په یهودا پورې
اړه درلوده بېرته ونیول، دا ټول د اسراییلو د پاچاهانو د تاریخ په
کتاب کې لیکل شوي دي. ۲۹ یروبعام مړ شو او په شاهي هدیره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې ښخ شو. بیا د هغه زوی زکریا د هغه په ځای پاچا شو.

## د یهودا پاچا عزیا

(دویم تواریخ ۲۶: ۱ – ۲۳)

١۵ ١ په اسراییلو کې د یروبعام د پاچاهۍ په اووه ویشتم کال
د امصیا زوی عزیا د یهودا پاچا شو. ٢ هغه د شپاړس کلنۍ په
عمر پاچا شو او په اورشلیم کې یې دوه پنځوس کاله پاچاهي وکړه.
د هغه د مور نوم یکلیا ؤ چې د اورشلیم ښځه وه.

٣ عزیا د خپل پلار په شان د څښتن اطاعت کاوه او ښه کارونه
یې کول. ۴ که څه هم سیمه یز د عبادت ځایونه ړنګ نه شول او
خلکو لا هم هلته قربانۍ کولې او خوشبویي یې سوځولې.

۵ څښتن عزیا د جذام په مرض اخته کړ او د عمر تر پایه پورې
په هغه رنځ رنځور پاتې شو. هغه په خپل کور کې یواځې اوسېده. د
هغه زوی یوتام د ماڼۍ او هېواد واک درلود.

٦ د عزیا د پاچاهۍ نورې پېښې او دا چې هغه څه کړي دي د
یهودا د پاچاهانو د تاریخ په کتاب کې لیکل شوي دي. ٧ عزیا مړ
شو او د داود د ښار په شاهي هدیره کې ښخ شو. بیا د هغه زوی
یوتام د هغه په ځای پاچا شو.

## د اسراییلو پاچا زکریا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ په یهودا کې د عزیا د پاچاهۍ په اته دېرشم کال د یروبعام
زوی زکریا د اسراییلو پاچا شو. هغه په سامره کې شپږ میاشتې
پاچاهي وکړه. ۹ زکریا د خپلو نیکونو په شان د څښتن په مقابل
کې ګناه وکړه. هغه د نباط د زوی د یروبعام بده لاره غوره کړه، څوک
چې د اسراییلو د ګناه سبب ګرځېدلی ؤ. ۱۰ د یابیش زوی شلوم د
زکریا په ضد دسیسه جوړه کړه او د خلکو په مخکې یې وواژه. بیا
شلوم د هغه په ځای پاچا شو. ۱۱ د زکریا د پاچاهۍ نورې پېښې
او دا چې هغه څه کړي دي د اسراییلو د پاچاهانو د تاریخ په کتاب
کې لیکل شوي دي. ۱۲ په دې توګه څښتن د ییهو سره خپله هغه
وعده سرته ورسوله چې ویلي یې وو: <د اسراییلو راتلونکي څلور
پاچاهان به ستا د کورنۍ څخه وي.> او همداسې وشول.

## د اسراییلو پاچا شلوم

۱۳ په یهودا کې د عزیا د پاچاهۍ په نهه دېرشم کال شلوم د
اسراییلو پاچا شو. هغه یوه میاشت په سامره کې پاچاهي وکړه. ۱۴
وروسته د جادي زوی مناحیم د ترزې څخه سامرې ته راغی، شلوم
یې هلته وواژه او په خپله د هغه په ځای د اسراییلو پاچا شو.

۱۵ شلوم چې د خپلې پاچاهۍ په وخت کې هرڅه کړي دي، د
هغې دسیسې په شمول چې د زکریا په ضد یې کړې وه، د اسراییلو د
پاچاهانو د تاریخ په کتاب کې لیکل شوي دي. ۱۶ مناحیم د ترزه
څخه د تک په حال کې، د تفسح ښار، د هغه اوسېدونکي او
ګردچاپېره سیمې په بشپړه توګه له منځه یوړې، ځکه چې دا ښار ده

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته نه ؤ تسليم شوى. هغه حتى د ټولو اميدوارو ښځو ګېډې هم څيرې
کړې.

## د اسراييلو پاچا مناحيم

١٧ په يهودا کې د عزيا د پاچاهۍ په نهه دېرشم کال مناحيم د
جادي زوى د اسراييلو پاچا شو او په سامره کې يې لس کاله
پاچاهي وکړه. ١٨ هغه د خپل ژوند تر پايه پورې د څښتن په
مقابل کې ګناه وکړه او د نباط د زوى يروبعام بده لاره يې چې د
اسراييلو د ګناه سبب ګرځېدلى ؤ، غوره کړه.

١٩ د مناحيم د پاچاهۍ په دوران کې د آشور پاچا تغلت فلاسر په
اسراييلو باندې بريد وکړ. مناحيم، تغلت فلاسر ته څلور دېرش ټنه
سپين زر ورکړل، ترڅو تغلت فلاسر د هغه سره د پاچاهۍ د واک په
ساتلو کې مرسته وکړي. ٢٠ نو مناحيم په اسراييلو کې په هر شتمن
نفر باندې حکم وکړ چې هغه ته نيم نيم کيلوګرامه سپين زر ورکړي
او دا ټول هغه د آشور پاچا ته ورکړل. نو د آشور پاچا بريد ودراوه
او د اسراييلو څخه لاړ.

٢١ د مناحيم د پاچاهۍ نورې پېښې او دا چې هغه څه کړي دي د
اسراييلو د پاچاهانو د تاريخ په کتاب کې ليکل شوي دي. ٢٢
مناحيم مړ او ښخ شو. بيا د هغه زوى فقحيا د هغه په ځاى پاچا شو.

## د اسراييلو پاچا فقحيا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۳ په یهودا کې د عزیا د پاچاهۍ په پنځوسم کال فقحیا د اسراییلو
پاچا شو او په سامره کې یې دوه کاله پاچاهي وکړه. ۲۴ هغه د
څښتن په مقابل کې ګناه وکړه او د نباط د زوی یروبعام بده لاره یې
چې د اسراییلو د ګناه سبب ګرځېدلې وْ، غوره کړه.

۲۵ د رملیا زوی فقح د فقحیا د لښکر قوماندان وْ، مګر هغه د پاچا
د وژلو دپاره پلانونه جوړ کړل. نو هغه د پنځوسو تنو جلعادیانو سره
په سامره کې د ماڼۍ تر ټولو قوي برخې ته ورننوتل او فقحیا پاچا
یې په قتل ورساوه. د پاچا سره یې دوه نور سړي چې ارجوب او
اریه نومېدل هم په قتل ورسول. بیا فقح د هغه په ځای پاچا شو.

۲۶ د فقحیا د پاچاهۍ نورې پېښې او دا چې هغه څه کړي دي د
اسراییلو د پاچاهانو د تاریخ په کتاب کې لیکل شوي دي.

## د اسراییلو پاچا فقح

۲۷ په یهودا کې د عزیا د پاچاهۍ په دوه پنځوسم کال د رملیا
زوی فقح د اسراییلو پاچا شو او په سامره کې یې شل کاله پاچاهي
وکړه. ۲۸ هغه د څښتن په مقابل کې ګناه وکړه، د نباط د زوی
یروبعام بده لاره یې غوره کړه څوک چې د اسراییلو د ګناه سبب
ګرځېدلې وْ.

۲۹ د فقح د پاچاهۍ په دوران کې د آشور پاچا تغلت فلاسر په
اسراییلو باندې برید وکړ. هغه د عیون، آبل بیت معکې، یانواح، قادش
او حاصور ښارونه او همدارنګه د جلعاد، جلیل او د نفتالي ټولې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سیمې هم ونیولې. بیا هغه اسراییلیان د اسیرانو په توګه آشور ته
یوړل.

۳۰ په یهودا کې د یوتام د پاچاهۍ په شلم کال د ایله زوی هوشع
د فقح په ضد دسیسه جوړه کړه او هغه یې په قتل ورساوه. بیا هوشع
د هغه په ځای د اسراییلو پاچا شو.

۳۱ د فقح د پاچاهۍ نورې پېښې او دا چې هغه څه کړي دي د
اسراییلو د پاچاهانو د تاریخ په کتاب کې لیکل شوي دي.

## د یهودا پاچا یوتام

(دویم تواریخ ۲۷: ۱ – ۹)

۳۲ په اسراییلو کې د فقح د پاچاهۍ په دویم کال د عزیا زوی
یوتام د یهودا پاچا شو. ۳۳ یوتام د پنځه ویشت کلنۍ په عمر پاچا
شو او په اورشلیم کې یې شپاړس کاله پاچاهي وکړه. د هغه مور
یروشه د صادوق لور وه.

۳۴ یوتام د خپل پلار په شان هغه کارونه کول چې د څښتن په نظر
کې ښه وو. ۳۵ دا یوتام ؤ چې د څښتن د کور پاسنۍ دروازه یې
بیا جوړه کړه. که څه هم سیمه یز د عبادت ځایونه ړنګ نه شول، لا
هم خلکو هلته قربانۍ کولې او خوشبويي یې سوځولې.

۳۶ د یوتام د پاچاهۍ نورې پېښې او دا چې هغه څه کړي دي د
یهودا د پاچاهانو د تاریخ په کتاب کې لیکل شوي دي. ۳۷ د هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د پاچاهۍ په دوران کې د لومړي ځل دپاره څښتن د سوريايي پاچا
رزين او د اسراييلو پاچا فقح ولېږل چې په يهودا باندې بريد وکړي.
۳۸ يوتام مړ شو او د هغه د نيکه داود د ښار په شاهي هديره کې
ښخ شو. بيا د هغه زوی آحاز د هغه په ځای پاچا شو.

## د يهودا پاچا آحاز

(دويم تواريخ ۲۸: ۱ – ۲۷)

۱۶ ۱ په اسراييلو کې د رمليا د زوی فقح د پاچاهۍ په
اوولسم کال، د يوتام زوی آحاز د يهودا پاچا شو. ۲ آحاز شل
کلن ؤ چې پاچا شو او شپاړس کاله يې په اورشليم کې پاچاهي
وکړه. هغه د خپل نيکه داود لاره غوره نه کړه، بلکې داسې کارونه يې
ونه کړل چې د هغه د څښتن خدای په نظر کې ښه وو. ۳ آحاز د
اسراييلو د پاچاهانو لاره غوره کړه. حتی هغه خپل زوی هم د
سوځېدونکې نذرانې په توګه قرباني کړ. دا د هغو قومونو ناوړه رواج
ؤ چې څښتن د اسراييلو د وړاندې تګ سره سم شړلي وو. ۴
آحاز د عبادت په سيمه يز عبادت ځايونو، غونډيو او د هرې سيوري
لرونکې ونې لاندې قربانۍ کولې او خوشبويي يې سوځولې.

۵ د سوريې پاچا رزين او د اسراييلو پاچا فقح په اورشليم باندې
بريد وکړ او هغه يې کلابند کړ، مګر هغوی ونه شو کولی چې آحاز ته
ماتې ورکړي. ۶ په همدې وخت کې رزين د ايلت د ښار واک بيا
تر لاسه کړ او هغه د يهودا خلک چې هلته اوسېدل له هغه ځای څخه
وشړل. ادوميان په ايلت کې ځای په ځای شول او تر نن ورځې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پورې هلته اوسیږي. ۷ آحاز د آشور پاچا تغلت فلاسر ته یو
پیغام ورولېږه چې پکې ویل شوي وو: <تاسو زما بادار او د پلار په
ځای یاست. د سوریې او اسراییلو پاچاهانو په ما باندې برید کړی
دی، هیله لرم چې راشئ او د هغوی څخه مې وژغورئ.> ۸
آحاز د څښتن د کور او د ماڼۍ د خزانې څخه سپین او سره زر
واخیستل او د سوغات په توګه یې د آشور پاچا ته ولېږل. ۹
څنګه چې تغلت فلاسر پیغام تر لاسه کړ، هغه د خپلو لښکرو سره
سوریې ته روان شو. هغه دمشق ونیوه، رزین پاچا یې وواژه او د هغه
ځای خلک یې د اسیرانو په توګه قیر ته بوتلل.

۱۰ کله چې آحاز پاچا دمشق ته لاړ چې د تغلت فلاسر سره لیدنه
کتنه وکړي، هلته هغه د قربانۍ ځای ولید او اوریا کاهن ته یې کټ
مټ هماغسې نقشه ورولېږله. ۱۱ نو اوریا کاهن د قربانۍ ځای د
هماغه نقشې په مطابق جوړ کړ چې آحاز پاچا د دمشق څخه رالېږلې
وه. نو مخکې له دې چې آحاز د دمشق څخه راستون شي د هغه کار
یې سرته ورساوه. ۱۲ کله چې پاچا د دمشق څخه راورسېد، د
قربانۍ ځای یې ولید، نژدې ورغی او په هغه ځای کې یې قربانۍ
وړاندې کړې. ۱۳ هغه سوځېدونکې او د غلو دانو نذرانې وړاندې
کړې او په هغه ځای باندې یې د څښلو نذرانه تویه کړه او د سولې د
نذرانې وینې یې وشیندلې. ۱۴ د برنجو هغه د قربانۍ ځای چې د
څښتن دپاره وقف شوی ؤ، د قربانۍ د نوي ځای او د څښتن د کور
ترمنځ ؤ. آحاز هغه لیرې کړ او هغه یې د قربانۍ د نوي ځای شمال
خواته کېښود.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ آحاز پاچا اوريا کاهن ته امر وکړ: <په دې لوی او نوي د
قربانۍ ځای باندې دا نذرانې وړاندې کړه: سهارنۍ سوځېدونکې
نذرانې او د غلو دانو ماښامنۍ نذرانې؛ د پاچا سوځېدونکې نذرانې او
د هغه د غلو دانو نذرانې؛ د دې خاورې د ټولو خلکو سوځېدونکې
نذرانې، د هغوی د غلو دانو نذرانې او د هغوی د څښلو نذرانې. د
قربانۍ په ځای باندې د سوځېدونکو نذرانو او قربانيو ټوله وينه
وشيندە. مګر د برنجو د قربانۍ ځای زما دپاره وساته چې د خپلې
ځانګړې سلامشورې دپاره ورڅخه کار واخلم.> ۱۶ نو څنګه چې
پاچا امر کړی ؤ، اوريا هماغسې وکړل.

۱۷ آحاز پاچا هغه برنجې ګاډۍ چې د ښبتن په کور کې ورڅخه
کار اخيستل کېده، جلا جلا کړلې او هغه تشتونه چې په هغه باندې
وو ليرې کړل. همدارنګه هغه د دولسو برنجي غوايانو د شا څخه
برنجي ټانکی واخيسته او هغه يې د تيږو په بنسټ باندې کېښووده.
۱۸ آحاز هغه خاصه خېمه هم ليرې کړه چې په سبت کې به
ورڅخه د عبادت دپاره کار اخيستل کېده او هغه شخصي دروازه يې
هم بنده کړه چې د يهودا پاچا به د ښبتن کور ته د ننوتلو دپاره
استعمالوله. دا ټول کارونه هغه د دې دپاره وکړل چې د آشور پاچا
تغلت فلاسر خوشحاله کړي.

۱۹ د آحاز د پاچاهۍ نورې پېښې او دا چې هغه څه کړي دي، د
يهودا د پاچاهانو د تاريخ په کتاب کې ليکل شوي دي. ۲۰ آحاز
مړ شو او د داود د ښار په شاهي هديرې کې ښخ شو او د هغه زوی
حزقيا د هغه په ځای پاچا شو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## هوشع، د اسراییلو آخرنی پاچا

۱۷ ۱ په یهودا کې د آحاز د پاچاهۍ په دولسم کال، د ایله
زوی هوشع د اسراییلو پاچا شو او هغه نهه کاله په سامره کې پاچاهي
وکړه. ۲ هوشع د څښتن په مقابل کې ګناه وکړه، مګر د هغه ګناه د
اسراییلو د تېرو شویو پاچاهانو په پرتله کمه وه. ۳ د آشور پاچا
شلمناسر په هوشع باندې برید وکړ. هوشع هغه ته تسلیم شو او هر
کال به یې هغه ته باج ورکاوه. ۴ مګر وروسته هوشع د باج
ورکولو څخه انکار وکړ او د مصر پاچا <سو> ته یې استازي
ورولېږل چې د هغه سره مرسته وکړي. کله چې شلمناسر له دې
خیانت څخه خبر شو، نو هوشع یې ونیوه او په زندان کې یې واچاوه.

## د سامرې سقوط

۵ بیا شلمناسر د اسراییلو په ټوله خاوره باندې برید وکړ او سامره
یې درې کاله محاصره کړه. ۶ د هوشع د پاچاهۍ په نهم کال، د
آشور پاچا سامره ونیوله او اسراییلیان یې د اسیرانو په توګه آشور ته
بوتلل. ځینې یې د حلح په ښار کې، ځینې یې د خابور سیند ته نژدې
د جوزان په سیمه کې او پاتې یې د ماد په ښارونو کې ځای په ځای
کړل.

## د اسراییلیانو د ماتې دلیل

۷ دا هرڅه په دې خاطر وشول چې د اسراییلو قوم د خپل
څښتن خدای په مقابل کې چې هغوی یې د مصر د پاچا څخه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ژغورلي وو او د هغه هېواد څخه يې راويستلي وو، ګناه کړې وه.
هغوی د نورو خدايانو عبادت کاوه ۸ او د هغو قومونو د رواجونو
څخه يې پيروي کوله چې څښتن هغوی د اسراييليانو د وړاندې تګ
سره سم شړلي وو. همدارنګه هغه رواجونه يې خپل کړل چې د
اسراييلو پاچاهانو پيل کړي وو. ۹ اسراييليانو په پټه د خپل
څښتن خدای په ضد داسې کارونه وکړل کوم چې هغه منع کړي وو.
دوی د اوسېدو په خپلو ټولو ځايونو کې يعنې د کوچنې کلي څخه
نيولې تر لوی ښاره پورې غېر مجاز د عبادت ځايونه جوړ کړل. ۱۰
هغوی په هرې غونډۍ باندې او د هرې سيورې لرونکې ونې لاندې د
تيږو ستنې او د اشيره بتان جوړ کړل. ۱۱ هغوی د عبادت په ټولو
غېر مجاز ځايونو کې خوشبويي وسوځولې او د هغو قومونو د
رواجونو څخه يې پيروي کوله چې څښتن د اسراييلو د وړاندې تګ
سره سم د هغوی د خاورې څخه شړلي وو. هغوی په خپلو بدو
عملونو سره د څښتن قهر راوپاراوه. ۱۲ هغوی د څښتن د هغه
حکم څخه سرغړونه کوله چې ورته ويلي وو: <د بتانو عبادت مه
کوئ.>

۱۳ څښتن خپل وړاندويونکي او نبيان ولېږل چې اسراييلو او يهودا
ته خبرداری ورکړي: <خپلې بدې لارې پرېږدئ. زما د هغو
حکمونو اطاعت وکړئ چې په شريعت کې دي او ستاسو نيکونو ته
مې ورکړي وو او د خپلو خدمتګارانو نبيانو په وسيله مې تاسو ته
رسولي وو.> ۱۴ مګر اسراييليانو اطاعت ونه کړ، د هغوی زړونه د
خپلو هغو نيکونو په شان چې په خپل څښتن خدای يې باور نه
درلود سخت وو. ۱۵ هغوی د څښتن خبرداری او حکمونه له پامه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وغورځول او هغه لوظ يې مات کړ چې د هغو د نيکونو سره يې کړی
ؤ. هغوی د بې ارزښته بتانو عبادت کاوه او په خپله هم بې ارزښته
شول. څښتن اسراييليانو ته وويل چې <هغه کارونه مه کوئ کوم چې
ستاسو شاوخوا پردي قومونه يې کوي>، مګر اسراييل د هماغو په
شان شول. ١٦ هغوی د خپل څښتن خدای ټول قوانين مات کړل
او د عبادت دپاره يې دوه فلزي سخوندران جوړ کړل. همدارنګه
هغوی د اشيره بت جوړ کړ، د ستورو عبادت او د بعل د بت خدمت
يې کاوه. ١٧ هغوی خپل زامن او لورګانې د سوځېدونکو نذرانو په
توګه قرباني کول، د کوډګرانو او فال کتونکو څخه به يې کار اخيست
او خپل ځانونه يې په بشپړه توګه هغو کارونو ته وقف کړل چې د
څښتن په نظر کې بد وو. ځکه يې د څښتن قهر راوپاراوه. ١٨ نو
څښتن په اسراييلو باندې ډېر په قهر شو او هغوی يې له خپل حضور
څخه وشړل. يوازې د يهودا قبيله پاتې شوه.

١٩ مګر حتی د يهودا خلکو هم د خپل څښتن خدای د قوانينو
اطاعت ونه کړ، هغوی د هغو رواجونو چې د اسراييلو خلکو خپل
کړي وو، پيروي وکړه. ٢٠ څښتن ټول اسراييليان ترک کړل، هغوی
ته يې سزا ورکړه او لوټ مارانو ته يې په لاس ورکړل تر هغې چې
آخر څښتن اسراييليان د خپل حضور څخه وشړل.

٢١ کله چې څښتن اسراييل د يهودا څخه خيري او جلا کړل،
اسراييليانو د نباط زوی يروبعام خپل پاچا وټاکه. يروبعام هغوی د
څښتن د پيروۍ څخه واړول او د هغوی د سختې ګناه سبب وګرځېد.
٢٢ اسراييليانو د يروبعام پيروي وکړه او د هغې ګناه څخه چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یروبعام کړې وه لاس وانخیست. ۲۳ لکه څنګه چې څښتن د خپلو
نبیانو په وسیله خبرداری ورکړی ؤ، نو آخر یې هغوی له خپل حضور
څخه وشړل. نو د اسراییلو خلک آشور ته جلاوطني شول او تر اوسه
پورې هلته اوسیږي.

## په اسراییلو کې د آشوریانو ځای په ځای کېدل

۲۴ د آشور پاچا د بابل، کوت، عوا، حمات او سفروایم د ښارونو
خلک بوتلل او هغوی یې د سامرې په ښارونو کې د جلاوطنو
اسراییلیانو په ځای مېشت کړل. هغوی دا ښارونه ونیول او هلته
استوګن شول. ۲۵ څرنګه چې دغو خلکو په سر کې د څښتن
عبادت نه کاوه، نو څښتن زمریان ورولېږل چې په هغوی باندې برید
وکړي. زمریانو له هغو څخه ځینې ووژل. ۲۶ د آشور پاچا خبر
شو چې هغه خلک چې هغه د سامرې ښارونو ته بیولي دي د هغه
وطن د خدای په قانون باندې نه پوهیږي، نو خدای هلته زمریان
ورولېږل چې هغوی ووژني. ۲۷ نو د آشور پاچا داسې امر وکړ:
<د هغو کاهنانو څخه چې مونږ د اسیرانو په توګه راوستي دي یو نفر
بېرته ولېږئ. هغه دې لاړ شي او هلته دې واوسیږي، د دې دپاره چې
خلکو ته د هغه وطن د خدای قانون وروښايي.> ۲۸ نو د
اسراییلي کاهنانو څخه یو تن چې له سامرې څخه جلاوطنه شوی ؤ،
لاړ چې په بیت ییل کې واوسیږي. بیا یې خلکو ته وښودل چې
څنګه د څښتن عبادت وکړي.

۲۹ مګر هغو خلکو چې په سامره کې ځای په ځای شوي وو، هر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یو قوم د خپلو بتانو جوړولو ته دوام ورکړ او هغه یې د عبادت په
هغو ځایونو کې کېښودل چې اسراییلیانو جوړ کړي وو. ۳۰ د بابل
خلکو د سکوت بنوت بتان، د کوت خلکو د نرجل بتان، د حمات
خلکو د اشیما بتان، ۳۱ د عوا خلکو د نبحز او ترتاک بتان جوړ
کړل او د سفروایم خلکو خپل ماشومان د سوځېدونکو نذرانو په توګه
خپلو بتانو یعنې ادرملک او عنملک ته قرباني کړل. ۳۲ دغو خلکو
د څښتن عبادت هم کاوه او له خپل منځ څخه یې هر قسم خلک
غوره کړل چې د عبادت د هغو ځایونو لپاره د کاهنانو په توګه
خدمت وکړي او په هغه ځایونو کې د هغوی دپاره قربانۍ وړاندې
کړي. ۳۳ په دې توګه هغوی هم د څښتن عبادت کاوه او هم یې د
هغه هېوادونو د رواجونو له مخې چې هغوی ورڅخه راغلي وو، د
خپلو بتانو عبادت کاوه.

۳۴ هغوی تر نن ورځې پورې په خپلو زړو رواجونو باندې ټینګ
ولاړ دي. هغوی د څښتن عبادت نه کوي او نه د هغو قوانینو او
حکمونو څخه پیروي کوي چې څښتن د یعقوب اولادې ته ورکړي
وو. (وروسته څښتن د یعقوب نوم په اسراییل بدل کړ.) ۳۵ څښتن
د اسراییلیانو سره لوظ کړی ؤ او هغوی ته یې حکم کړی ؤ: <
نورو خدایانو عبادت مه کوئ. هغوی ته سجده مه کوئ، د هغوی
خدمت مه کوئ او هغوی ته قربانۍ مه وړاندې کوئ. ۳۶ یواځې
زما عبادت کوئ! زه هغه څوک یم چې تاسو یې په خپل لوی قوت
سره د مصر څخه راوویستلئ. تاسو باید ماته سجده وکړئ او ماته
قربانۍ وړاندې کړئ. ۳۷ تاسو باید تل زما د هغو قوانینو او
حکمونو اطاعت وکړئ چې ستاسو دپاره مې لیکلي دي. د نورو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدايانو عبادت ونه کړئ ۳۸ او هغه لوظ چې تاسو سره مې کړی
ؤ هغه بايد هېر نه کړئ. د نورو خدايانو عبادت ونه کړئ. ۳۹ تاسو
بايد زما يعنې د خپل څښتن خدای عبادت وکړئ او زه به تاسو د
ټولو دښمنانو څخه وژغورم.> ۴۰ مګر هغو خلکو چې په اسراييلو
کې اوسېدل دا حکم يې قبول نه کړ او د خپلو زړو رواجونو پيروی
ته يې دوام ورکړ.

۴۱ هغوی د څښتن عبادت کاوه، مګر د خپلو بتانو عبادت يې هم
کاوه. د هغوی اولادونه تر نن ورځې پورې هماغه کار کوي.

## د يهودا پاچا حزقيا

(دويم تواريخ ۲۹: ۱ – ۲، ۳۱: ۱)

۱۸ ۱ په اسراييلو کې د ايله د زوی هوشع د پاچاهۍ په
دولسم کال، د آحاز زوی حزقيا د يهودا پاچا شو. ۲ حزقيا پنځه
ويشت کلن ؤ چې پاچا شو او هغه نهه ويشت کاله په اورشليم کې
پاچاهي وکړه. د هغه د مور نوم ابيا وه چې د زکريا لور وه. ۳ هغه
لکه د خپل نيکه داود پاچا په شان هغه کارونه وکړل چې د څښتن په
نظر کې ښه وو. ۴ هغه سيمه يز د عبادت ځايونه له منځه يوړل، د
تيږو ستنې يې ماتې کړې او د اشيره بتان يې راوغوځول. همدارنګه
يې هغه برنجي مار چې موسی جوړ کړی ؤ او د نحشتان په نوم
يادېده هم ټوټې ټوټې کړ. تر هغه وخته پورې د اسراييلو خلکو هغه
ته د درناوي دپاره خوشبويي سوځولې.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٥ حزقیا د اسراییلو په څښتن خدای باندې باور درلود. د یهودا په
ټولو پاچاهانو کې د هغه په شان نه د هغه څخه وروسته څوک ؤ او
نه د هغه څخه مخکې. ٦ هغه څښتن ته پوره وفادار ؤ او د هغو
قوانینو اطاعت یې کاوه چې څښتن موسیٰ ته ورکړي وو. ٧ نو
څښتن د هغه سره ؤ او هغه په خپلو ټولو کارونو کې بریالی ؤ. هغه د
آشور د پاچا په مقابل کې یاغي شو او هغه ته یې د تسلیمېدلو څخه
انکار وکړ. ٨ هغه فلسطینیانو ته د غزې او د هغې د شاوخوا
سیمو پورې ماته ورکړه چې دا ماته د تر ټولو کوچني کلي څخه
نیولې تر لوی دېوال لرونکي ښار پورې وه.

٩ د حزقیا د پاچاهۍ په څلورم کال چې په اسراییلو باندې د
هوشع د پاچاهۍ اووم کال ؤ، د آشور پاچا شلمناسر په اسراییلو برید
وکړ او سامره یې محاصره کړه. ١٠ د محاصرې د درېیم کال په آخر
کې آشوریانو سامره ونیوله. نو د حزقیا د پاچاهۍ په شپږم کال چې د
هوشع د پاچاهۍ نهم کال ؤ، دا پېښه وشوه. ١١ د آشور پاچا،
اسراییلیان د اسیرانو په توګه آشور ته بوتلل. د هغو څخه یې ځینې د
حلح په ښار کې، ځینې یې د خابور سیند ته نژدې د جوزان په سیمه
کې او ځینې یې د ماد په ښارونو کې ځای په ځای کړل. ١٢
سامرې ځکه سقوط وکړ چې اسراییلیانو د خپل څښتن خدای
اطاعت نه کاوه، بلکې هغه لوظ یې مات کړ چې څښتن د هغوی سره
کړی ؤ او د هغو ټولو قوانینو څخه یې سرغړونه وکړه چې د څښتن د
خدمتګار موسیٰ په وسیله ورکړل شوي وو. هغوی نه هغه حکمونه
منل او نه یې په هغو باندې عمل کاوه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د سنخاریب برید په یهودا باندې

(دویم تواریخ ۳۲: ۱ – ۱۹ او اشعیا ۳۶: ۱ – ۲۲)

۱۳ د حزقیا د پاچاهۍ په څوارلسم کال د آشور پاچا سنخاریب د
یهودا په ټولو قوي شوي ښارونو باندې برید وکړ او هغه یې ونیول.
۱۴ حزقیا دغه پیغام سنخاریب ته چې په لاکیش کې ؤ ورولېږه:
<ما غلط کار کړی دی، خپل برید ودروئ او هرڅه چې تاسو
غواړئ زه به یې درکړم.> د سنخاریب پاچا ځواب دا ؤ چې حزقیا
باید لس ټنه سپین زر او یو ټن سره زر هغه ته ورولېږي. ۱۵ حزقیا
هغه ټول سپین زر چې د څښتن په کور کې او د ماڼۍ په خزانه کې
وو هغه ته ورولېږل. ۱۶ همدارنګه هغه د څښتن د کور د دروازو
څخه سره زر او هم هغه سره زر چې په خپله یې د دروازو چوکاټونه
ورباندې پوښ کړي وو راوویستل او هغه ټول یې سنخاریب ته
ورولېږل.

۱۷ د آشور پاچا یو لوی لښکر د خپلو دریو لوړ رتبه مامورانو سره
د لاکیش څخه ولېږه چې په اورشلیم کې د حزقیا مخالفت وکړي. کله
چې اورشلیم ته ورسېدل، هغوی د پاسني ډنډ د لښتي په غاړه چې د
کالیو مینځونکو د پټي په لاره کې پرته ده، ودرېدل. ۱۸ هغوی
حزقیا پاچا راوغوښت مګر د هغه درې درباریان بیرون راووتل چې
د هغوی سره لیدنه کتنه وکړي. هغه درې درباریان دا وو: د حلقیا
زوی الیاقیم چې د ماڼۍ مسؤول ؤ، شبنا د دربار منشي او د آساف
زوی یوآخ چې د پېښو د ثبتولو مسؤول ؤ.

۱۹ د آشور د منصبدارانو څخه یو تن هغوی ته ووېل: <لوی پاچا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غواړي په دې پوه شي چې حزقيا پاچا ولې دومره ډاډه دی؟ ٢٠
پاچا ته ووايئ: آيا ته فکر کوې چې يواځې خبرې کولی شي چې د
عسکري پوهې او قدرت ځای ونيسي؟ ته په چا باندې تکيه کوې
چې زما په مقابل کې ياغي شوی يې؟ ٢١ ګوره، ته په دې طمع يې
چې مصر به درسره مرسته وکړي، مګر هغه به د هغې کړکې په شان
وي چې د امسا په توګه ورڅخه کار اخيستل کيږي. هغه به مات شي،
ستا په لاس کې به ننوځي او تا به ټپي کړي. نو هرڅوک چې د مصر
په پاچا باندې تکيه وکړي هغه به همداسې شي.> ٢٢ لوی پاچا
تاسو درباريانو ته دا هم وايي: <کېدای شي ماته ووايئ چې مونږ په
خپل څښتن خدای باندې تکيه کوو. آيا دا هغه څوک نه دی چې
حزقيا د هغه د عبادت او د قربانۍ ځايونه له منځه يوړل او د يهودا او
اورشليم خلکو ته يې وويل چې تاسو د اورشليم د قربانۍ د ځای په
وړاندې عبادت کوئ؟ ٢٣ زه به تاسو سره د خپل بادار، يعنې د
اشور د پاچا په استازيتوب يو شرط کيږدم. زه به تاسو ته دوه زره
آسونه درکړم خو که چېرې تاسو وکولای شئ چې هم دومره نفر پيدا
کړئ چې په هغو باندې سپاره شي. ٢۴ تاسو د جنګي ګاډيو او
سپرو عسکرو په خاطر په مصر باندې تکيه کوئ! نو څنګه کولی شئ
چې تاسو زما د بادار د خدمتګارانو څخه يو ډېر کمزوری منصبدار
په شا وتمبوئ؟ ٢۵ آيا تاسو فکر کوئ چې ما د څښتن له مرستې
څخه پرته ستاسو په وطن باندې بريد کړی دی چې هغه وران کړم؟
څښتن په خپله ماته وويل چې په هغه باندې بريد وکړم او هغه له
منځه يوسم.>

٢۶ په دې وخت کې الياقيم، شبنا او يوآخ هغه لوړ رتبه مامور ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وویل: <مهرباني وکړئ، زمونږ سره د ارامی په ژبه خبرې وکړئ،
ځکه چې مونږ په هغې باندې پوهېږو. د یهودا په ژبه خبرې مه کوئ،
ځکه هغه ټول خلک چې په دېوال باندې ناست دي ستاسو خبرو ته
یې غوږ ایښی دی.>

٢٧ هغه ځواب ورکړ: <آیا تاسو فکر کوئ چې پاچا زه د دې
دپاره رالیږلی یم چې دا ټولې خبرې یوازې تاسو او پاچا ته وکړم؟
نه، زه د هغو خلکو سره هم خبرې کوم چې په دېوال باندې ناست
دي. هغوی او تاسو به هم خپل غایطه مواد وخوري او خپلې متیازې
به وڅښي، په دې خاطر چې نور به د خوړلو او څښلو دپاره څه شی
نه وي.>

٢٨ بیا هغه ملکی مامور ودرېد او په لوړ آواز یې د یهودا په ژبه
وویل: <د آشوریانو لوی پاچا پیغام واورئ! ٢٩ پاچا داسې وایي:
حزقیا مه پرېږدئ چې تاسو وغولوي. هغه نه شي کولی چې تاسو زما
د لاس څخه وژغوري. ٣٠ باور مه کوئ که هغه تاسو ته ووایي: په
څښتن باندې باور ولرئ، هغه به تاسې وژغوري او دا ښار به د آشور
د پاچا په لاس ورنه کړل شي.

٣١ د حزقیا خبرو ته غوږ مه نیسئ. ځکه د آشور پاچا داسې
وایي: زما سره روغه جوړه وکړئ. راووځئ او ماته تسلیم شئ. نو
تاسو هر یو به د خپلو تاکونو انګور وخورئ، د خپلو ونو څخه به
انځر وخورئ او د خپلو ذخیرو څخه به اوبه وڅښئ. ٣٢ وروسته
زه راځم او تاسو به هغه هېواد ته بوځم چې ستاسو د وطن په شان
دی، په هغه هېواد کې چې ډېر زیات غلې داني، ډوډی، د انګورو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شراب، د انګورو باغونه، د زيتونو ونې او شات دي. که چېرې تاسو
هغه کار وکړئ چې زه يې درته حکم کوم، تاسو به مړه نه شئ، بلکې
ژوندي به پاتې شئ. د حزقيا خبرو ته غوږ مه نيسئ، هغه تاسو بې
لارې کوي او وايي: څښتن به مونږ وژغوري. ۳۳ آيا کله د کوم
قوم خدايانو خپل وطن د آشور پاچا له لاسه ژغورلی دی؟ ۳۴
چېرته دي د حمات او ارفاد خدايان؟ چېرته دي د سفروايم، هينع او
عوا خدايان؟ آيا هغوی سامره زما د لاسونو څخه وژغورله؟ ۳۵ د
دې ټولو هېوادونو د خدايانو څخه کوم يو دا توان درلود چې خپل
هېواد زما څخه وژغوري؟ نو څښتن به څنګه وکولای شي چې
اورشليم زما د لاسونو څخه خلاص کړي؟>

۳۶ مګر خلک غلي پاتې شول او په ځواب کې يې ورته هېڅ ونه ويل، ځکه چې حزقيا پاچا هغوی ته دا امر کړی ؤ چې ځواب ورنه کړي.

۳۷ نو الياقيم، شبنا او يوآخ له غمه خپل کالي وشلول، حزقيا ته ورغلل او څه چې ورته هغه ملکی مامور ويلي وو، هغه يې حزقيا ته بيان کړل.

## د اشعيا نبي سره مشوره

(اشعيا ۳۷: ۱ – ۷)

۱۹ ۱ کله چې حزقيا پاچا دا خبره واورېده، هغه له غمه خپل کالي وشلول، د وير کالي يې واغوستل او د څښتن کور ته ورننوت.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲ هغه د ماڼۍ مسؤول الیاقیم، د دربار منشي شبنا او د کاهنانو
مشران چې ټولو د ویر کالي اغوستي وو، د آموص زوی اشعیا نبي ته
ورولېږل. ۳ دوی هغه ته وویل: <حزقیا داسې وايي: نن ورځ د
خپګان ورځ ده، مونږ ته سزا راکول کیږي او سپکاوی راته شوی دی.
مونږ د هغې ښځې په شان یو چې د اولاد زیږولو ته تیاره وي، مګر د
زیږولو قوت پکې نه وي. ۴ د آشور پاچا خپل لوړپوړی مامور د
دې دپاره رالېږلی دی چې د ژوندي خدای سپکاوی وکړي. ستا
څښتن خدای دې دا د سپکاوی خبرې واورې او هغه چا چې دا
خبرې کړې دي هغه ته دې سزا ورکړي. نو د هغو نفرو دپاره دعا
وکړئ چې ژوندي پاتې دي.>

۵ کله چې اشعیا د حزقیا پاچا پیغام تر لاسه کړ، ۶ هغه بېرته
دا ځواب ورولېږه: <څښتن تاته وايي چې آشوریان مه پرېږده ترڅو
په دې سپکو خبرو سره تا ووېروي، چې څښتن تا نه شي ژغورلی.
۷ څښتن به د آشور په پاچا ځینې ګونګوسې واوروي او هغه به
مجبور کړي چې بېرته خپل هېواد ته ستون شي. هلته به یې په یو چا
باندې ووژني.>

## یوځل بیا د آشورانو ګواښ

(اشعیا ۳۷: ۸ – ۲۰)

۸ د آشور لوړ رتبه ملکي مامور پوه شو چې پاچا د لاکیش ښخه
تللی دی او د لبنه ښار په مقابل کې جنګیږي، نو هلته ورغی چې د
هغه سره مشوره وکړي. ۹ آشوریانو ته خبر ورورسېد چې د مصر
لښکر د ایتوپیا پاچا، ترهاقه تر مشرۍ لاندې راروان دی چې برید

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړي. کله چې پاچا دا خبره واورېده، نو هغه د یهودا پاچا حزقیا ته
د استازو په لاس لیک ورولیږه: ۱۰ <په خپل خدای باور مه کوه
او د هغه په هغې وعدې مه غولېږه چې زما په مقابل کې به د
اورشلیم څخه دفاع وکړي. ۱۱ تا اورېدلي دي چې د آشور
پاچاهانو د ټولو هېوادونو سره څه وکړل، هغه یې په بشپړه توګه له
منځه یوړل. آیا فکر کوې چې ته به وژغورل شې؟ ۱۲ زما نیکونو
د جوزان، حاران او رصف ښارونه له منځه یوړل او د عدن هغه
خلک چې په تلسار کې اوسېدل، ووژل او د هغوی د خدایانو څخه
هېڅ یو هغوی ونه ژغورل. ۱۳ د حمات، ارفاد، سفروایم، هینع او
عوا د ښارونو پاچاهان چېرته دي؟>

۱۴ حزقیا پاچا د استازو څخه لیک واخیست او هغه یې ولوست.
بیا هغه د څښتن کور ته لاړ، هغه لیک یې د څښتن په حضور کې
پرانیست ۱۵ او داسې دعا یې وکړه: <ای د اسراییلو څښتن خدایه،
چې د آسماني مخلوقاتو دپاسه په تخت ناست یې، تا اسمانونه او
ځمکه پیدا کړي دي. ته یوازېنی خدای یې چې د نړۍ په ټولو
پاچاهیو باندې پاچاهي کوې. ۱۶ نو ای څښتنه، وګوره چې په
مونږ باندې څه تېرېږي. ای ژوندیه خدایه! د سنخاریب خبرې واوره،
چې ستا سپکاوی کوي. ۱۷ دا ربښتیا ده، ای څښتنه، چې د آشور
پاچاهانو ډېر قومونه له منځه وړي دي، د هغوی هېوادونه یې وران
کړي دي ۱۸ او د هغوی خدایان یې سوځولي دي. هغه خدایان نه
وو، هغه یواځې د لرګیو او تیږو هغه بتان وو چې د انسان په لاسونو
جوړ شوي وو. ۱۹ نو زمونږ څښتن خدایه، مونږ د آشوریانو څخه
وژغوره، ترڅو د نړۍ ټول قومونه په دې پوه شي چې، ای څښتنه،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یوائې ته خدای یې.<

## د اشعیا پیغام حزقیا ته

(اشعیا ۳۷: ۲۱ – ۳۸)

۲۰ نو د آموص زوی اشعیا حزقیا پاچا ته دا پیغام ورولېږه: >د
اسراییلو څښتن خدای داسې فرمايي: د آشور د پاچا سنخاریب په
هکله مې ستا دعا قبوله کړه. ۲۱ نو زه د هغه په ځواب کې داسې
وایم: اورشلیم د یوې نجلۍ په شان دی چې ستا څخه کرکه کوي او
په تا باندې ملنډې وهي. کله چې ته تښتې، نو هغوی په تا پورې
خندا کوي. ۲۲ ای سنخاریبه! تا ماته، د اسراییلو سپېڅلي خدای ته
کفر ویلی، خپل آواز دې اوچت کړی او ملنډې دې وهلې دي. ۲۳
تا په خپلو استازو باندې زه، څښتن سپک کړم او د خپل ځان په اړه
دې داسې لاپې وهلې دي: ما خپلې جنګي ګاډې د لبنان ډېرو لوړو
ځایونو ته خېژولې دي، د هغه ځنګل تر ټولو دننني ځای ته ورننوتی
یم او د سبر او سروې ډېرې ښې ونې مې پرې کړې دي. ۲۴ ما په
مصر کې په خپلو پښو باندې هر سیند وچ کړ او په پردیو هېوادونو
کې مې د هغو کوهیانو اوبه وڅښلې چې ما کیندلي وو.

۲۵ آیا تا دا نه دي اورېدلي چې دا هرڅه مې پخوا پلان کړي وو
او حتی په دې نه پوهېږې چې دا یوائې زه وم چې دا پرېکړه مې
وکړه چې ته به دا کار کوې؟ ته مې پرېښودلې چې هغه ځواکمن
ښارونه وران کړې. ۲۶ د هغو ځایونو خلک کمزوري او ډېر سخت
وارخطا شول. هغوی د پټیو د بوټو یا د هغو تنکیو ونو په شان وو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د کوټو په سر باندې شنه کېږي او د پخېدلو څخه مخکې
سوځېږي.

٢٧ مګر زه خبر يم چې ته چېرته اوسېږې او څه وخت ځې او
راځې. دغه راز زه پوهېږم چې څومره ماته په قهر يې. ٢٨ ستا
غرور مې ليدلی دی او هم هغه سخته کرکه مې ليدلې ده چې ته يې
زما څخه لرې. نو زه به ستا په پوزه کې چنګک او ستا په خوله کې
قيضه واچوم. بيا به دې هغه ځای ته بېرته بوځم له کومه ځايه چې
راغلی وې.>

٢٩ بيا اشعيا حزقيا پاچا ته وويل: <دا به د هغه څه نښه وي چې
پېښ به شي. سږکال او راتلونکی کال به ته هغه غلې دانې وخورې
چې په خپله شنې کېږي، مګر په درېم کال به ته وکولای شې چې
خپلې غلې دانې وکرې او حاصل به يې واخلې او د انګورو تاکونه به
وکرې او انګور به يې وخورې. ٣٠ هغوی چې په يهودا کې ژوندي
پاتې دي د نباتاتو په شان به په ځمکه کې ژورې ريښې وکړي او
مېوه به ونيسي. ٣١ په اورشليم او د صيهون په غره کې به يو شمېر
خلک ژوندي پاتې شي، ځکه چې څښتن ټينګه پرېکړه کړې ده چې
داسې به وشي.>

٣٢ څښتن د آشور د پاچا په هکله داسې وايي: <هغه به دې ښار
ته داخل نه شي او يو غشی به هم په هغه باندې ګوزار نه کړي. هېڅ
عسکر به د خپلو سپرونو سره هغه ښار ته ورنژدې نه شي او د هغه
شاوخوا به د خاورو ډېری جوړې نه کړي. ٣٣ څښتن داسې وايي:
په هغې لارې چې هغه راغلی دی بېرته به په هماغه لار لاړ شي او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښار ته به داخل نه شي. ۳۴ زه به د دې ښار څخه د خپل ځان په
اړه او د خپلې هغې ژمنې په اړه چې د خپل خدمتګار داود سره مې
کړې وه، دفاع وکړم او هغه به وساتم.>

۳۵ په هماغه شپه د څښتن فرښته د آشوریانو کمپ ته ورغله او
۱۸۵۰۰۰ عسکر یې ووژل. کله چې سهار وختي پاتې خلک
راپاڅېدل نو ویې لیدل چې په هغه ځای کې مړي پراته دي. ۳۶ نو
سنخاریب پاچا بېرته آشور ته ستون شو او د نینوا په ښار کې
اوسېده. ۳۷ یوه ورځ چې هغه د خپل خدای نسروک د عبادت په
ځای کې عبادت کاوه، د هغه دوو زامنو ادرملک او شرازر په خپلو
تورو باندې هغه وواژه او بیا هغوی د ارارات خاورې ته وتښتېدل. د
هغه بل زوی چې اسرحدون نومېده د هغه په ځای پاچا شو.

## د حزقیا ناروغي او بېرته روغېدل

(دویم تواریخ ۳۲: ۲۴ – ۲۶ او اشعیا ۳۸: ۱ – ۸، ۳۸: ۲۱ – ۲۲)

۲۰ ۱ په هغو ورځو کې حزقیا پاچا ناروغ شو او مرګ ته
نژدې ؤ. د آموص زوی اشعیا نبي ورغی چې هغه ووینې او هغه ته
یې وویل: <څښتن فرمایي چې خپل ټول کارونه دې برابر کړه، ځکه
چې ته مړ کېږې او روغ به نه شې.>

۲ حزقیا خپل مخ دېوال ته واړاوه او دعا یې وکړه: ۳ <ای
څښتنه، دا در په یاد کړه چې ما د زړه له کومې ستا خدمت کړی دی،
تاته وفادار وم او تل مې دا کوښښ کړی دی چې هغه کار وکړم چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تا راښخه غوښتنه کړې ده.> بيا يې ډېر سخت وژړل.

۴ اشعيا د پاچا څخه لاړ، خو مخکې له دې چې هغه د ماڼۍ د
منځنۍ حوېلۍ څخه تېر شي ښښتن هغه ته وفرمايل: ۵ <بېرته
لاړ شه او زما د قوم مشر حزقيا ته ووايه: ستا د نيکه داود ښښتن
خدای داسې فرمايي: ما ستا دعا قبوله کړه او ستا اوښکې مې وليدلې،
زه به تاته شفا درکړم. په درېمه ورځ به ته زما په کور کې عبادت
وکړې. ۶ زه به ستا ژوند پنځلس کاله نور هم زيات کړم. زه به تا
او دغه ښار د آشور د پاچا له لاسه وژغورم. زه به د دې ښار څخه د
خپل ځان او خپل خدمتګار داود په خاطر دفاع وکړم.> ۷ بيا
اشعيا د حزقيا خدمتګارانو ته وويل: <د انځرو مرهم تياره کړئ.>
هغوی همداسې وکړل او هغه يې د هغه په دانه باندې کېښودل او هغه
روغ شو.

۸ حزقيا د اشعيا څخه پوښتنه وکړه: <هغه به کومه نښه وي چې
ښښتن به ما روغ کړي او زه به په درېمه ورځ د ښښتن کور ته لاړ
شم؟> ۹ اشعيا ځواب ورکړ: <ښښتن به تاته يوه داسې نښه
درکړي چې دا ثابته کړي چې هغه په خپلې وعدې باندې ولاړ دی.
نو اوس ووايه چې په زينه باندې دې د لمر سيوری لس پوړۍ
مخکې لاړ شي يا لس پوړۍ وروسته؟>

۱۰ حزقيا ورته وويل: <سيوری تل مخکې ځي او دا اسانه کار
دی. زه غواړم چې سيوری دې لس پوړۍ شاته لاړ شي.>

۱۱ نو اشعيا نبي په ښښتن باندې غږ وکړ او ښښتن هغه سيوری

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د آحاز په زينه باندې راکوز شوی ؤ لس پوړۍ وروسته کړ.

## د بابل استازي

(اشعيا ۳۹: ۱ – ۸)

۱۲ په همدې وخت کې د بابل پاچا د بلدان زوی، مرودک بلدان
خبر شو چې حزقيا پاچا ناروغ ؤ، نو هغه د خپلو استازو په لاس
حزقيا ته يو ليک او سوغات ورولېږل. ۱۳ حزقيا استازو ته هرکلی
ووايه او هغوی ته يې خپله شتمني، يعنې خپل سپين او سره زر،
خپلې مسالې او عطرونه او خپل ټول عسکري سامان وروښودل. د
هغه په تحويلخانو او يا د هغه په پاچاهۍ کې داسې شی نه ؤ چې
هغوی ته يې نه وي ښودلی. ۱۴ بيا اشعيا نبي حزقيا پاچا ته ورغی
او پوښتنه يې ورڅخه وکړه: <دا خلک له کوم ځای څخه راغلي وو
او تاته يې څه وويل؟>

حزقيا ځواب ورکړ: <هغوی د يو ډېر لېرې وطن يعنې بابل څخه
راغلي وو.>

۱۵ اشعيا پوښتنه وکړه: <ستا په ماڼۍ کې هغوی څه وليدل؟>

حزقيا ځواب ورکړ: <هغوی هرڅه وليدل. په تحويلخانو کې داسې
شی نه ؤ چې هغوی ته مې نه وي ښودلی.>

۱۶ بيا اشعيا حزقيا پاچا ته وويل: <څښتن داسې فرمايي: ۱۷
داسې وخت راتلونکی دی چې هرڅه چې ستا په ماڼۍ کې دي او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هرڅه چې ستا نیکونو تر نن ورځې پورې ذخیره کړي دي، هغه به
بابل ته یوړل شي. هېڅ شی به پاتې نه شي. ۱۸ ستا د خپلې
اولادې څخه به ځینې په اسارت یوړل شي او هغوی به خسیان شي
چې د بابل د پاچا په ماڼۍ کې خدمت وکړي.>

۱۹ حزقیا پاچا فکر وکړ چې دا خبره دا معنیٰ لري چې د هغه په
ژوند کې به سوله او امنیت وي، نو هغه ځواب ورکړ: <هغه پیغام چې
تا د څښتن له خوا ماته راکړ ښه پیغام دی.>

## د حزقیا د پاچاهۍ پای

(دویم تواریخ ۳۲: ۳۲ – ۳۳)

۲۰ نور ټول هغه کارونه چې حزقیا پاچا کړي وو، د یهودا د
پاچاهانو د تاریخ په کتاب کې لیکل شوي دي. په هغو کې د هغه د
زړورتوب کارونه او دا چې هغه څنګه حوض او کاریز جوړ کړ چې
اورشلیم ته یې اوبه راوړل کېدلې، هم شامل دي. ۲۱ حزقیا مړ
شو او د هغه زوی منسي د هغه په ځای پاچا شو.

## د یهودا پاچا منسي

(دویم تواریخ ۳۳: ۱ – ۲۰)

۲۱ ۱ منسي دولس کلن ؤ چې د یهودا پاچا شو او هغه په
اورشلیم کې پنځه پنځوس کاله پاچاهي وکړه. د هغه د مور نوم
حفصیبه ؤ. ۲ منسي د څښتن په مقابل کې ګناه وکړه. هغه د هغو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قومونو د ناوړه دودونو څخه پیروي وکړه چې څښتن د خپل قوم د
وړاندې تګ سره سم شړلي وو. ۳ هغه سیمه یز د عبادت ځایونه
چې د هغه پلار حزقیا له منځه وړي وو، منسي هغه بېرته جوړ کړل.
هغه د بعل د عبادت دپاره د قربانۍ ځایونه جوړ کړل او د اشیره بت
یې جوړ کړ لکه څنګه چې د اسراییلو پاچا اخاب جوړ کړی ؤ.
منسي د ستورو عبادت هم کاوه. ۴ هغه په اورشلیم کې د څښتن
په کور کې د نورو خدایانو دپاره د قربانۍ ځایونه جوړ کړل د کوم په
اړه چې څښتن ویلي وو: <په دې ځای کې باید زما عبادت وشي.>
۵ هغه د څښتن د کور په دواړو حویلیو کې ستورو ته د عبادت
دپاره د قربانۍ ځایونه جوړ کړل. ۶ هغه خپل زوی د
سوځېدونکې نذرانې په توګه قرباني کړ. هغه به فالونه کتل او د فال
کتونکو او کوډګرانو سره به یې مشورې کولې. هغه د څښتن په مقابل
کې ډېره لویه ګناه وکړه او د هغه قهر یې راوپاراوه. ۷ هغه د اشیره
بت د خدای په کور کې یعنې په هغه ځای کې کېښود چې د هغه په
اړه څښتن داود او د هغه زوی سلیمان ته داسې ویلي وو: <دلته په
اورشلیم کې، په دې کور کې، دا هغه ځای دی چې ما د اسراییلو د
دولسو قبیلو د ټولې سیمې څخه غوره کړی دی چې تل به پکې زما
عبادت کیږي. ۸ که چیرې د اسراییلو قوم زما د ټولو حکمونو
څخه اطاعت وکړي او د هغه ټول شریعت څخه پیروي وکړي چې
زما خدمتګار موسیٰ هغوی ته ورکړی دی، نو زه به پرېنږدم چې
هغوی د هغه وطن څخه وشړل شي چې ما د هغوی نیکونو ته
ورکړی ؤ.> ۹ مګر د یهودا خلکو د څښتن اطاعت ونه کړ او
منسي په هغوی باندې د هغې څخه هم لویه ګناه وکړه چې هغو
قومونو کړې وه کوم چې څښتن د هېواد څخه د خپل قوم د وړاندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تګ په وخت کې شړلي وو.

١٠ ښبنتن د خپلو خدمتګارانو يعني نبيانو په وسيله وويل: ١١
<منسي پاچا داسې ناوړه کارونه وکړل چې د اموريانو د کارونو
څخه بدتر وو او په خپلو بتانو يې د يهودا خلک په ګناه باندې اخته
کړل. ١٢ نو زه د اسراييلو ښبنتن خدای به په اورشليم او يهودا
باندې داسې بلا راولم چې هرڅوک خبر شي هغه به هک حيران شي.
١٣ زه به اورشليم ته داسې سزا ورکړم لکه څنګه چې مې سامرې
او د اسراييلو پاچا اخاب او د هغه اولادې ته ورکړې وه. زه به
اورشليم د هغه د خلکو څخه داسې پاک کړم لکه د يو قاب خواړه
چې په بشپړه توګه خوړل کيږي. ١٤ هغه خلک چې ژوندي پاتې
کيږي د هغو څخه به مخ واړوم او هغوی به خپلو دښمنانو ته په لاس
ورکړم. هغوی به ورباندې فتح ومومي او وطن به يې لوټ کړي. ١٥
زه د خپل قوم سره دا کار ځکه کوم چې هغوی داسې کارونه کړي
دي چې زه ورڅخه کرکه لرم. له هغه وخت څخه چې د هغوی
نيکونه د مصر څخه راوتلي دي تر نن ورځې پورې يې زما قهر
راپارولی دی.>

١٦ برسيره پردې چې منسي د يهودا خلک د بت پرستۍ خواته
واړول او د دې سبب شو چې هغوی د ښبنتن په مقابل کې ګناه
وکړي، هغه دومره ډېر بې ګناه خلک ووژل چې د اورشليم په کوڅو
کې ويني بهېدلې.

١٧ نور ټول هغه کارونه چې منسي کړي وو چې په هغو کې هغه
ګناهونه هم شامل دي چې هغه کړي وو، هغه د يهودا د پاچاهانو د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاریخ په کتاب کې لیکل شوي دي. ۱۸ منسي مړ شو او د خپلې
ماڼۍ په باغ کې یعنې د عوزا په باغ کې ښخ شو او د هغه زوی آمون
د هغه په ځای پاچا شو.

## د یهودا پاچا آمون

(دویم تواریخ ۳۳: ۲۱ – ۲۵)

۱۹ آمون دوه ویشت کلن ؤ چې د یهودا پاچا شو او دوه کاله یې
په اورشلیم کې پاچاهي وکړه. د هغه د مور نوم مشلمت ؤ، هغه د
حاروز لور وه چې د یطبه د ښارګوټي څخه ؤ. ۲۰ هغه د خپل پلار
منسي په شان د څښتن په مقابل کې ګناه وکړه. ۲۱ هغه د خپل
پلار لاره غوره کړه او د هغو بتانو عبادت یې وکړ چې د هغه پلار یې
عبادت کاوه. ۲۲ هغه د خپلو نیکونو څښتن خدای پرېښود او د
څښتن د حکمونو څخه یې سرغړونه وکړه.

۲۳ د آمون درباریانو د هغه په مقابل کې دسیسه جوړه کړه او هغه
یې په خپلې ماڼۍ کې په قتل ورساوه. ۲۴ د یهودا خلکو د آمون
قاتلان ووژل او د هغه زوی یوشیا یې د هغه په ځای پاچا کړ.

۲۵ د آمون د پاچاهۍ نورې پېښې او دا چې هغه څه کړي دي د
یهودا د پاچاهانو د تاریخ په کتاب کې لیکل شوي دي. ۲۶ آمون
په خپله هدیره کې د عوزا په باغ کې ښخ شو او د هغه زوی یوشیا د
هغه په ځای پاچا شو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د یهودا پاچا یوشیا

(دویم تواریخ ۳۴: ۱ – ۲)

۲۲ ۱ یوشیا اته کلن ؤ چې د یهودا پاچا شو او هغه په
اورشلیم کې یودېرش کاله پاچاهي وکړه. د هغه د مور نوم یدیده ؤ،
هغه د عدایه لور وه چې د بصقت د ښارګوټي شخه ؤ. ۲ یوشیا
هغه کار کاوه چې د ښښتن په نظر کې ښه ؤ. هغه د خپل نیکه داود
لاره غوره کړه او په ټینګه یې د ښښتن د ټولو قوانینو اطاعت کاوه.

## د موسی د شریعت د یو کتاب پیدا کېدل

(دویم تواریخ ۳۴: ۸ – ۲۸)

۳ د یوشیا د پاچاهی په اتلسم کال، هغه د اصلیا زوی شافان چې
د مشلام لمسی ؤ او د دربار منشي ؤ د دغه حکم سره د ښښتن کور
ته ولېږه: ۴ <مشر کاهن حلقیا ته ورشه او د هغو پیسو مقدار
معلوم کړه چې د ښښتن د کور د دروازې ساتونکو د خلکو شخه
راټولې کړې دي. ۵ هغوی ته ووایه چې دا پیسې هغو ټېکادارنو
ته ورکړي چې د ښښتن د کور د بیاجوړونې مسؤولیت لري. دوی
باید هغه ۶ ترکاڼانو، معمارانو او ښکرانو ته ورکړي او همدارنګه
هغه لرګي او توږل شوې تیږې دې واخلي چې په بیاجوړونه کې
ورشخه کار اخیستل کیږي. ۷ هغه خلک چې د کار مسؤولیت په
غاړه لري هغوی صادق خلک دي، نو دې ته اړتیا نشته چې د هغوی
شخه د پیسو حساب وغواړو.>

۸ حلقیا، شافان منشي ته وویل: <ما دلته د ښښتن په کور کې د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شریعت یو کتاب موندلی دی.> هغه دا کتاب شافان ته ورکړ او هغه
ولوست. ۹ نو شافان بېرته پاچا ته ورغی او هغه ته یې خبر
ورکړ: <هغه پیسې چې د څښتن په کور کې وې هغه ستاسو
خدمتګارانو واخیستې او هغو ټېکادارنو ته یې ورسپارلې چې د
بیاجوړونې مسؤولیت یې په غاړه دی.> ۱۰ شافان زیاته کړه:
<حلقیا ماته یو کتاب راکړی دی> او هغه یې پاچا ته په لوړ آواز
ولوست.

۱۱ کله چې پاچا د شریعت د کتاب خبرې واورېدلې، له غمه یې
خپل کالي وشلول. ۱۲ هغه حلقیا کاهن، د شافان زوی اخیقام، د
میکایا زوی عکبور، شافان د دربار منشي او د پاچا خدمتګار عسایا
ته دغه حکم ورکړ: ۱۳ <لاړ شئ او د څښتن سره زما او د یهودا
د ټولو خلکو دپاره د دې کتاب د هدایاتو په اړه مشوره وکړئ.
څښتن په مونږ باندې ډېر په قهر دی ځکه څه چې په دې کتاب کې
لیکل شوي دي زمونږ نیکونو په هغو باندې عمل نه دی کړی.>

۱۴ حلقیا، اخیقام، عکبور، شافان او عسایا لاړل چې د یوې
پیغمبرې سره چې حلده نومېده، مشوره وکړي. هغه د اورشلیم د ښار
په نوې سیمه کې اوسېدله (د هغې مېړه شلوم نومېده چې د تقوه زوی
او د حرحس لمسی ؤ، هغه د خدای د کور د کالیو د ساتلو مسؤولیت
په غاړه درلود). نو څه چې پېښ شوي وو هغې ته یې بیان کړل.
۱۵ هغې ورته وویل چې پاچا ته بېرته لاړ شي او هغه ته د
اسراییلو د څښتن خدای دغه پیغام ورکړي: ۱۶ <څښتن داسې
وایي: د دې کتاب د لیکنې په مطابق چې د یهودا پاچا لوستلی دی،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه به په دې ځای او د دې ځای په خلکو باندې بلا راولم. ۱۷
هغوی زه پرېښودم او نورو خدایانو ته یې خوشبویي وسوځولې، په
خپلو ټولو کارونو یې زما قهر راپارولی دی. نو زما قهر به د اورشلیم
په مقابل کې سوړ نه شي. ۱۸ خو د یهودا پاچا په اړه چې تاسو یې
د څښتن د مشورې دپاره رالېږلي یئ هغه ته ووایئ چې د اسراییلو
څښتن خدای وایي: تا د دې کتاب کلام اورېدلی دی. ۱۹ کله چې
تا واورېدل چې ما د دې ځای او د هغه د اوسېدونکو په ضد داسې
خبرې وکړې چې هغه به ویجاړ او لعنتي شي، تا توبه وویستله، د
تواضع سر دې زما په وړاندې ټیټ کړ، خپل کالي دې وشلول او زما
په مخکې دې وژړل، نو ما ستا دعا قبوله کړه. ۲۰ په دې خاطر زه
به تا پرېږدم چې په آرامۍ سره مړ شې. ستا د مرګ څخه وروسته به
اورشلیم په بلا اخته کړم.> نو هغوی یوشیا پاچا ته دا پیغام
ورورساوه.

## د یوشیا اصلاحات

(دویم تواریخ ۳۴: ۳ – ۷، ۳۴: ۲۹ – ۳۳)

۲۳ ۱ نو یوشیا پاچا د یهودا او اورشلیم ټول سپین ږیري خپل
حضور ته راوغوښتل. ۲ هغه د یهودا د کلیو او ښارګوټو خلکو، د
اورشلیم د ښار خلکو، کاهنانو، نبیانو او نورو ټولو خلکو سره چې
شتمن او غریب پکې شامل وو د څښتن کور ته لاړ. پاچا د ټولو په
مخکې په لوړ آواز سره د لوظ هغه ټول کتاب ولوست چې د څښتن
په کور کې موندل شوی ؤ. ۳ پاچا د شاهي ستنې سره ودرېد او د
څښتن سره یې لوظ وکړ چې د هغه اطاعت به کوي، د زړه له کومې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به د هغه د قوانينو او حکمونو څخه پيروي کوي او هغه غوښتنې به عملي کوي چې په لوظنامې پورې تړلې دي او په دې کتاب کې ليکل شوې دي. ټول قوم ژمنه وکړه چې په دې لوظنامې باندې به ټينګ ودريږي.

۴ بيا پاچا مشر کاهن حلقيا، د هغه مرستيالو کاهنانو او د ښښتن
د کور د دروازې ساتونکو ته حکم وکړ چې هغه ټول شيان چې د
بعل، د اشيره د بتانو او ستورو ته په عبادت کولو کې ورڅخه کار
اخيستل کېده د ښښتن د کور څخه راوباسي. وروسته پاچا دا ټول
شيان د ښار څخه بيرون د قدرون په دره کې وسوځول او د هغو
ايرې يې بيت ييل ته يوړلې. ۵ هغه کاهنان يې له کاره ګوښه کړل
چې د يهودا د پاچاهانو له خوا د دې دپاره ټاکل شوي وو چې د
يهودا د ښارونو او د اورشليم په شاوخوا په عبادتځايونو کې
خوشبويي وسوځوي. همدارنګه يې هغه ټول کاهنان چې بعل، لمر،
سپوږمۍ او ستورو ته يې خوشبويي سوځولې، ليرې کړل. ۶ هغه
د ښښتن د کور څخه د اشيره بت ليرې کړ، هغه يې د ښار څخه
وويست او د قدرون درې ته يې يووړ. هلته يې هغه وسوځاوه، د
هغې ايره يې په ګرد باندې بدله کړه او په عمومي هديره باندې يې
وشيندله. ۷ يوشيا هغه ودانۍ وراني کړې چې د ښښتن په کور کې
وې او لواطت کارانو په هغې کې کار کاوه او هم په هغه ځای کې به
ښځو د اشيره د بت دپاره چپنې ګنډلې.

۸ هغه کاهنان چې د يهودا په ښارونو کې اوسېدل، يوشيا هغوی
اورشليم ته راوستل. هغه په ټول وطن کې يعنې په شمال کې د جبع

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څخه نیولې په جنوب کې تر بئرشبع پورې د قربانۍ هغه ځایونه
ناپاکه وګرځول چې هلته به کاهنانو خوشبويي سوځولې. یوشیا هغه د
قربانۍ ځایونه وران کړل چې د ښار د والي یهوشع د دروازې په
خوله کې او د ښار د دروازې کیڼې خواته وو. ۹ که څه هم دغو
کاهنانو ته اجازه نه وه چې په اورشلیم کې څښتن ته د قربانۍ په
ځای کې خدمت وکړي، مګر هغوی کولی شول چې هغه فطیره ډوډۍ
وخوري چې د نورو کاهنانو دپاره پخېدله.

۱۰ همدارنګه یوشیا پاچا د توفت د قربانۍ ځای هم ناپاکه
وګرځاوه چې د حنوم په دره کې ؤ، ترڅو هېڅوک ونه شي کولی چې
خپل زوی یا خپله لور د سوځېدونکې نذرانې په توګه د مولک بت ته
قرباني کړي. ۱۱ یوشیا د آسونو هغه مجسمې هم لیرې کړې چې د
یهودا پاچاهانو لمر ته د عبادت کولو دپاره وقف کړې وې او هغه
جنګي ګاډۍ یې وسوځولې چې په دې عبادت کې به ورڅخه کار
اخیستل کېده. (دا مجسمې د څښتن د کور په حویلۍ کې، د هغې
دروازې تر څنګ چې د یو لوړ رتبه درباري نتنملک د اوسېدلو ځای
ته نژدې وه، ساتل شوې وې.) ۱۲ یوشیا پاچا د قربانۍ هغه ځایونه
چې د یهودا پاچاهانو د ماڼۍ په بام یعنې د آحاز پاچا په کوټې باندې
جوړ کړي وو، د قربانۍ د هغو ځایونو سره یوځای وران کړل چې
منسي پاچا د خدای د کور په دوو حویلیو کې جوړ کړي وو. هغه دا
د قربانۍ ځایونه ټوټې ټوټې کړل او هغه یې د قدرون په درې کې
وغورځول. ۱۳ یوشیا د قربانۍ هغه ځایونه ناپاک وګرځول چې
سلیمان پاچا د اورشلیم په ختیځ کې او د فساد یعنې د ګناه د غره په
جنوب کې د ناوړه بتانو د عبادت دپاره جوړ کړي وو – یعنې د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

صیدون د خلکو بت عشتاروت، د موآب د خلکو بت کموش او د
عمون د خلکو بت مولک دپاره. ۱۴ یوشیا پاچا د تیږو ستنې ټوټې
ټوټې کړې، د اشیره بتان یې ویجاړ کړل او هغه ځمکه چې دغه بتان
پکې ودرول شوي وو هغه یې د انسانانو په هډوکو باندې پټه کړه.

۱۵ پرته له دې یوشیا هغه د قربانۍ ځای هم وران کړ چې په
بیت ییل کې ؤ او د نباط د زوی یروبعام پاچا له خوا چې د اسراییلو
د ګناه سبب ګرځېدلی ؤ جوړ شوی ؤ. یوشیا د قربانۍ ځای
راوغورځاوه، د هغه تیږې یې ټوټې ټوټې کړې او په ګرد یې بدلې
کړې. هغه د اشیره بت هم وسوځاوه. ۱۶ بیا یوشیا شاوخوا وکتل او
په غونډۍ باندې یې یوه هدیره ولیده. د هغو څخه یې هډوکي
راوویستل، د قربانۍ په ځای کې یې وسوځول او په دې ډول هغه د
قربانۍ ځای ناپاکه کړ. لکه څنګه چې د خدای نبي یروبعام ته
وړاندوینه کړې وه کټ مټ هماغسې وشول.

۱۷ یوشیا پاچا شاوخوا وکتل او یوه غټه تیږه یې ولیدله. هغه
پوښتنه وکړه: <هغه څه شی دی؟>

د بیت ییل خلکو ځواب ورکړ: <دا د هغه نبي زیارت دی چې د
یهودا څخه راغلی ؤ او د هغو کارونو وړاندوینه یې کړې وه چې تا د
قربانۍ د دې ځای سره وکړل.>

۱۸ یوشیا امر وکړ: <هغه په خپل حال پرېږدئ، د هغه هډوکي دې
بېځایه نه شي.> نو نه د هغه نبي هډوکي بېځایه شول او نه د هغه بل
نبي هډوکي چې د سامرې څخه راغلی ؤ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٩ یوشیا پاچا په هر ښار کې هغه بتخانې ورانې کړې چې د
اسراییلو د پاچاهانو له خوا جوړې شوې وې او د هغو په سبب یې د
څښتن قهر راپارولی ؤ. هغه د قربانیو د دې ټولو ځایونو سره داسې
کار وکړ لکه څنګه چې هغه په بیت ییل کې کړی ؤ. ٢٠ هغه د
بتخانو هغه ټول کاهنان چې هلته یې خدمت کاوه د قربانیو په ځایونو
باندې ووژل او د قربانۍ په ټولو ځایونو باندې یې د انسان هډوکي
وسوځول. بیا هغه اورشلیم ته ستون شو.

## یوشیا او د فسحې اختر لمانځنه

(دویم تواریخ ٣۵: ١ – ١٩)

٢١ یوشیا خلکو ته امر وکړ: <لکه څنګه چې د لوظ په کتاب کې
لیکل شوي دي، د خپل څښتن خدای د عزت په خاطر د فسحې
اختر ولمانځئ.> ٢٢ له هغه وخت راهیسې چې قاضیانو په قوم
باندې حکومت کاوه، د اسراییلو او یهودا د پاچاهانو په وخت کې
هیڅ کله دا اختر په دې ډول نه ؤ لمانځل شوی. ٢٣ مګر د یوشیا د
پاچاهۍ په اتلسم کال د فسحې اختر په اورشلیم کې ولمانځل شو.

## د یوشیا نور بدلونونه

٢۴ د دې دپاره چې د هغه کتاب لیکل شوي قوانین عملي شي،
کوم چې مشر کاهن حلقیا د څښتن په کور کې موندلی ؤ، نو یوشیا
پاچا د اورشلیم او یهودا څخه ټول جادوګران او فال کتونکي، ټول
کورني خدایان، بتان او د بت پرستۍ ټول شیان له منځه یوړل. ٢۵
یوشیا پاچا د زړه له کومي او په خپل ټول فکر او قوت سره د څښتن

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدمت وکړ او د موسیٰ د ټول شریعت څخه يې اطاعت وکړ. د هغه
څخه نه مخکې داسې پاچا ؤ او نه وروسته.

۲۶ مګر د هغو کارونو په سبب چې منسي پاچا کړي وو، څښتن په
يهودا باندې ډېر په قهر شوی ؤ او لا هم د هغه قهر سوړ شوی نه ؤ.
۲۷ څښتن وويل: <زه به د يهودا سره هغه کار وکړم کوم چې ما د
اسراييلو سره کړی ؤ. زه به د يهودا خلک د خپل حضور څخه وشړم
او زه به اورشليم يعنې هغه ښار چې ما غوره کړی ؤ او خپل کور
يعنې هغه ځای چې ما ويلي وو چې هلته بايد زما عبادت وشي
پرېږدم او هغه به رد کړم.>

## د يوشيا مړينه

(دويم تواريخ ۳۵: ۲۰ – ۳۶: ۱)

۲۸ د يوشيا د پاچاهۍ نورې پېښې او دا چې هغه څه کړي دي د
يهودا د پاچاهانو د تاريخ په کتاب کې ليکل شوي دي. ۲۹ هغه
وخت چې يوشيا پاچا ؤ، د مصر فرعون نيکو د خپل لښکر سره د
فرات سيند ته لاړ چې د آشور پاچا سره مرسته وکړي. يوشيا پاچا
لاړ چې د هغه سره جګړه وکړي، مګر فرعون نيکو د هغه سره
مخامخ شو او هغه يې په مجدو کې وواژه. ۳۰ د هغه درباريانو د
هغه مړی په جنګي ګاډۍ کې کېښود، بېرته يې اورشليم ته يووړ او په
خپله هديره کې يې ښخ کړ. د يهودا خلکو د يوشيا زوی يهوآحاز سر
په تېلو غوړ کړ او هغه يې خپل پاچا وټاکه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د یهودا پاچا یهوآحاز

(دویم تواریخ ۳۶: ۲ – ۴)

۳۱ یهوآحاز درویشت کلن ؤ چې د یهودا پاچا شو او درې میاشتې
یې په اورشلیم کې پاچاهي وکړه. د هغه مور حموطل نومېدله او د
ارمیا لور وه چې د لبنه د ښار څخه ؤ. ۳۲ هغه د خپلو نیکونو لاره
غوره کړه او د ښښتن په مقابل کې یې ګناه وکړه. ۳۳ د مصر
فرعون نیکو، یهوآحاز د حمات د خاورې په ربیله کې په زندان کې
واچاوه. په دې ډول د یهوآحاز پاچاهي پای ته ورسېدله. بیا نیکو د
یهودا خلک مجبور کړل چې هغه ته درې زره او څلورسوه کیلوګرامه
سپین زر او څلوردېرش کیلوګرامه سره زر باج ورکړي. ۳۴ فرعون
نیکو، الیاقیم د یوشیا بل زوی د خپل پلار په ځای پاچا وټاکه او د
الیاقیم نوم یې په یهویاقیم باندې بدل کړ. یهوآحاز د نیکو له خوا
مصر ته یوړل شو او هلته مړ شو.

## د یهودا پاچا یهویاقیم

(دویم تواریخ ۳۶: ۵ – ۸)

۳۵ یهویاقیم پاچا سپین او سره زر د مصر پاچا نیکو ته د باج په
توګه ورکړل. د غوښتل شوو پیسو د راټولولو دپاره یې د هېواد د
خلکو څخه د هغوی د شتمنۍ په تناسب مالیه راټوله کړه.

۳۶ یهویاقیم پنځه ویشت کلن ؤ چې د یهودا پاچا شو او هغه په
اورشلیم کې یوولس کاله پاچاهي وکړه. د هغه مور زبیده نومېدله او د
فدایا لور وه چې د رومه د ښارګوټي څخه ؤ. ۳۷ یهویاقیم د خپلو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نیکونو لاره غوره کړه او د څښتن په مقابل کې یې ګناه وکړه.

۲۴ ۱ د یهویاقیم د پاچاهۍ په وخت کې د بابل پاچا
نبوکدنصر په یهودا باندې برید وکړ او یهویاقیم درې کاله هغه ته غاړه
کېښودله، وروسته بیا هغه یاغي شو. ۲ لکه څنګه چې څښتن د
خپلو خدمتګارو نبیانو په وسیله ویلي وو نو هغه د یهودا په ضد د
بابلیانو، سوریایانو، موآبیانو او عمونیانو څخه وسله والې ډلې ولیږلې،
ترڅو یهودا له منځه یوسي. ۳ دا هرڅه په رښتیا سره د څښتن د
حکم سره سم په یهودا باندې وشول. دا د دې دپاره وشول چې د
یهودا خلک د هغو ګناهونو له کبله چې منسي پاچا کړي وو د څښتن
د حضور څخه وشړل شي. ۴ په ځانګړي ډول منسي د اورشلیم
کوڅې په وینو ډکې کړې. د هغو بې ګناه خلکو په سبب چې هغه
وژلي وو، څښتن نه غوښتل چې هغه وبخښي.

۵ د یهویاقیم د پاچاهۍ نورې پېښې او دا چې هغه څه کړي دي
د یهودا د پاچاهانو د تاریخ په کتاب کې لیکل شوي دي. ۶
یهویاقیم مړ شو او د هغه زوی یهویاکین د هغه په ځای پاچا شو.

۷ د مصر فرعون او د هغه لښکر بیا هېڅکله د مصر څخه ونه
وتل، ځکه چې د بابل پاچا هغه ټوله سیمه چې په مصر پورې تړلې
وه یعنې د فرات د سیند څخه د مصر تر شمالي پولې پورې د خپل
واک لاندې راوستې وه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د یهودا پاچا یهویاکین

(دویم تواریخ ۳۶: ۹ – ۱۰)

۸ یهویاکین اتلس کلن ؤ چې د یهودا پاچا شو او هغه په اورشلیم
کې درې میاشتې پاچاهي وکړه. د هغه مور نحوشطا نومېدله او د
الناتان لور وه چې د اورشلیم څخه ؤ. ۹ یهویاکین د خپل پلار
لاره غوره کړه او د څښتن په مقابل کې یې ګناه وکړه.

۱۰ د هغه د پاچاهۍ په دوران کې د بابلیانو لښکر چې د نبوکدنصر
پاچا منصبدارانو یې مشري کوله، اورشلیم ته ورغلل او هغه یې
کلابند کړ. ۱۱ د محاصرې په وخت کې خپله نبوکدنصر اورشلیم ته
راغی. ۱۲ یهویاکین پاچا د خپلې مور، خپلو خدمتګارانو، خپلو
منصبدارانو او د ماڼۍ د درباریانو سره بابلیانو ته تسلیم شو. نبوکدنصر
د خپلې پاچاهۍ په اتم کال یهویاکین اسیر کړ. ۱۳ نبوکدنصر د
څښتن د کور او د ماڼۍ ټولې خزانې بابل ته یوړې. همدارنګه هغه د
سرو زرو هغه ټول سامان چې سلیمان پاچا د څښتن د کور دپاره
جوړ کړی ؤ، ټوټې ټوټې کړ. دا هرڅه د څښتن د وړاندوینې سره سم
سرته ورسېدل. ۱۴ نبوکدنصر د اورشلیم خلک او ټول منصبداران
او جنګیالان د اسیرانو په توګه بوتلل چې د دې ټولو شمېر لس زرو
تنو ته رسېده. هغه کسبګران هم د آهنګرانو په شمول بوتلل او یوازې
ډېر غریب خلک یې په یهودا کې پرېښودل.

۱۵ نبوکدنصر، یهویاکین د هغه د مور، ښځو، درباریانو او د یهودا د
مشرانو سره د اسیر په توګه بابل ته یووړ. ۱۶ همدارنګه نبوکدنصر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اووه زره جنګي نفر او زر نفره کسبګر چې په هغو کې آهنګران هم
شامل وو، بابل ته بوتلل. هغه ټول په جګړه کې قوي او تکړه وو.

١٧ نبوکدنصر د یهویاکین تره، متنیا د یهودا پاچا وټاکه او د هغه
نوم یې په صدقیا باندې بدل کړ.

## د یهودا پاچا صدقیا

(دویم تواریخ ٣٦: ١١ – ١٢ او ارمیا ٥٢: ١ – ٣)

١٨ صدقیا یوویشت کلن ؤ چې د یهودا پاچا شو او هغه یوولس
کاله په اورشلیم کې پاچاهي وکړه. د هغه مور حموطل نومېدله او د
ارمیا لور وه چې د لبنه د ښار څخه ؤ. ١٩ صدقیا پاچا کټ مټ د
یهویاقیم پاچا په شان د څښتن په مقابل کې ګناه وکړه. ٢٠ څښتن
د اورشلیم او یهودا په خلکو باندې دومره په قهر شو چې هغوی یې د
خپل حضور څخه وشړل.

نو صدقیا د بابل د پاچا نبوکدنصر په مقابل کې یاغي شو.

## د اورشلیم سقوط

(دویم تواریخ ٣٦: ١٣ – ٢١ او ارمیا ٥٢: ٣ – ١١)

٢٥ ١ نو د صدقیا د پاچاهۍ د نهم کال د لسمې میاشتې په
لسمه ورځ نبوکدنصر د خپل ټول لښکر سره اورشلیم ته راغی. هغوی
د ښار څخه بیرون خپلې خیمې ودرولې او د هغه ګردچاپېره یې د
خاورو څخه جوړ شوي دېوال ته د ختلو لاره جوړه کړه. ٢

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اورشليم يې د صدقيا د پاچاهۍ تر يوولسم کاله پورې تر محاصرې
لاندې ونيو. ۳ د هماغه کال د څلورمې مياشتې په نهمه ورځ
دومره سخته قحطي شوه چې خلکو ته د خوراک دپاره هېڅ شی
پاتې نه شو ۴ او بابليانو د ښار دېوالونه سوري کړل. که څه هم
ښار د هغوی له خوا کلابند ؤ د شپې له خوا پاچا او ټول عسکر
وتښتېدل. هغوی د شاهي باغ د هغې دروازې له لارې لاړل چې د
دوو دېوالونو په منځ کې وه او د اردن د درې خواته روان شول. ۵
مګر د بابليانو لښکر پاچا تعقيب کړ او د اريحا ډاګ ته نژدې هغه
پسې ورورسېدل. نو د هغه ټولو عسکرو هغه پرېښود او هرې خواته
خپاره شول. ۶ صدقيا ونيول شو او نبوکدنصر پاچا ته چې په
ربيله کې ؤ يوړل شو. په هغه ځای کې نبوکدنصر، صدقيا محاکمه کړ
او هغه په سزا محکوم شو. ۷ د صدقيا زامن يې د هغه په مخ کې
ووژل. د صدقيا سترګې يې راوويستلې، په زنځيرونو يې وتاړه او بابل
ته يې يووړ.

## د خدای د کور ورانېدل

(ارميا ۵۲: ۱۲ – ۲۳)

۸ د بابل د پاچا نبوکدنصر د پاچاهۍ د نولسم کال د پنځمې
مياشتې په اوومه ورځ، نبوزرادان د پاچا سلاکار او د هغه د ساتونکو
قوماندان اورشليم ته ورننوت. ۹ هغه د څښتن کور، شاهي ماڼۍ
او په اورشليم کې ټولې مهمې ودانۍ وسوځولې ۱۰ او د هغه ټولو
عسکرو چې د هغه سره وو د ښار دېوالونه راوغورځول. ۱۱ بيا
نبوزرادان هغه خلک چې په ښار کې پاتې وو، د هغو نفرو په شمول

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې بابلیانو ته تسلیم شوي وو، بابل ته بوتلل. ۱۲ مګر هغه په
یهودا کې ځینې غریب خلک پرېښودل چې د انګورو په باغونو او
پټیو کې کار وکړي.

۱۳ بابلیانو هغه برنجي ستنې او ګاډۍ ګانې چې د څښتن په کور
کې وې د لویې برنجي ټانکۍ سره یوځای ټوټې ټوټې کړلې او ټول
برنج یې بابل ته یوړل. ۱۴ همدارنګه هغوی بېلچې، د قربانۍ د
ځای څخه د ایرو د لیرې کولو لوښي، د څراغونو د پلتو پاکوونکي، د
قربانیو د وینو کاسې، د خوشبویۍ د سوځولو کاسې او نور ټول هغه
برنجي سامان چې د خدای په کور کې د خدمت دپاره ورڅخه کار
اخیستل کېده، یوړل. ۱۵ هغوی هغه ټول شیان هم یوړل چې د
سرو یا سپینو زرو څخه جوړ شوي وو چې په هغو کې د وینو د
شیندلو کاسې او د اور لوښي شامل وو. ۱۶ دوه برنجي ستنې،
برنجي ګاډۍ ګانې او لویه برنجي ټانکۍ، چې سلیمان د څښتن د کور
دپاره جوړې کړې وې، دومره درانده وو چې نه وزن کېدل. ۱۷
دواړه ستنې یو شان وې. د هرې ستنې لوړوالی اته متره ؤ چې د هغه
په سر باندې برنجي تاج ؤ چې یو متر او دېرش سانتي لوړوالی یې
درلود. د هر تاج ګردچاپېره یو برنجي جال ؤ چې په برنجي انارو
باندې ښکلی کړای شوی ؤ.

## بابل ته د یهودا د خلکو اسارت

(ارمیا ۵۲: ۲۴ – ۲۷)

۱۸ برسېره پردې، نبوزرادان قوماندان، مشر کاهن سرایا، دویم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کاهن سفنیا او د خدای د کور درې مهم ماموران د اسیرانو په توګه
ونیول. ۱۹ نبوزرادان د هغه ښار څخه د لښکرو قوماندان، د پاچا
هغه پنځه شخصي سلاکاران چې په ښار کې پاتې وو، د قوماندان
مرستیال چې د جګړې دپاره د عسکرو د راغونډولو مسؤول ؤ او نور
شپېته تنه ونیول. ۲۰ نبوزرادان هغوی د بابل پاچا ته چې د حمات
په خاوره کې د ریبله په ښار کې ؤ، بوتلل. ۲۱ نو پاچا هغوی هلته
اعدام کړل.

د یهودا خلک جلاوطني شول.

## د یهودا والي جدلیا

(ارمیا ۴۰: ۷ – ۹، ۴۱: ۱ – ۳)

۲۲ د بابل پاچا نبوکدنصر د اخیقام زوی جدلیا چې د شافان لمسی
ؤ، هغه یې د هغو ټولو نفرو چې بابل ته نه وو وړل شوي او په یهودا
کې پاتې وو د والي په توګه وټاکه. ۲۳ کله چې د یهودا عسکري
منصبدارانو او عسکرو چې تسلیم شوي نه وو، واورېدل چې د بابل
پاچا، جدلیا د والي په توګه ټاکلی دی، هغوی په مصفه کې د جدلیا
سره وکتل. هغه منصبداران دا وو: اسماعیل د نتنیا زوی، یوحانان د
قریح زوی، سرایا د تنحومت زوی چې د نطوفې د ښارګوټي
اوسېدونکی ؤ او یازنیا چې د معکې څخه ؤ. ۲۴ جدلیا د هغوی
سره قسم وخوړ: <تاسو باید ډاډه اوسئ.> زیاته یې کړه: <د بابل د
پاچا د ماموران څخه مه وېرېږئ. په دې خاوره کې واوسېږئ او د
پاچا خدمت وکړئ، نو ستاسو ټول کارونه به ښه په مخ روان وي.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۵ مګر د هماغه کال په اوومه میاشت اسماعیل چې د نتنیا زوی،
د الیشمع لمسی او د شاهي کورنۍ غړی ؤ، د لسو نفرو سره مصفې ته
لاړ، په جدلیا باندې یې برید وکړ او هغه یې وواژه. همدارنګه هغه
یهودیان او بابلیان یې هم ووژل چې د هغه سره په هغه ځای کې وو.
۲۶ بیا ټول خلک که غریبان وو یا شتمن د عسکري منصبدارانو
سره یوځای مصر ته وتښتېدل، ځکه چې هغوی د بابلیانو څخه
وېرېدل.

## د یهویاکین آزادي

(ارمیا ۵۲: ۳۱ – ۳۴)

۲۷ د یهودا د پاچا یهویاکین د جلاوطنۍ د اووه دېرشم کال د
دولسمې میاشتې په اووه ویشتمه ورځ، اویل مرودک د بابل پاچا شو.
هغه یهویاکین د زندان څخه آزاد کړ. ۲۸ اویل مرودک د هغه سره
په مهربانۍ چلند وکړ او هغه ته یې د هغو پاچاهانو په پرتله چې د
هغه سره په بابل کې اوسېدل ډېر لوړ مقام ورکړ. ۲۹ نو یهویاکین
نور د زندان کالي وانغوستل، او د ژوند تر پایه پورې یې د پاچا په
دسترخوان باندې ډوډۍ خوړله. ۳۰ ترڅو پورې چې یهویاکین
ژوندی ؤ د پاچا له خوا هغه ته به هره ورځ د هغه د اړتیاوو مصرف
ورکول کېده.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
afghanbibles.org © د ختیځ افغانستان ۲۰۲۱
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.